# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱٤) ګڼه / پنجشنبه ۰۵ جمادی الثانی ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۰۸ جدی ۱٤۰۱ هـ.ش / ۲۹ دسمبر ۲۰۲۲ میلادي


د عامې روغتیا وزارت

## د پولیو د مثبتو پېښو په اړه خپاره شوي راپورونه حقیقت نه لري

شریعت: د عامې روغتیا وزارت په ننګرهار ولایت کې د پولیو د پېښو په اړه د یو شمېر رسنیو له لوري خپاره شوي راپورونه په کلکه رد کړل. د دغه وزارت ویاند ډاکټر شرافت زمان رسنیو ته په را لېږل شوي پیغام کې ویلـــي، چې (په ننګرهـــار کې د پولیو واقعاتو په اړه د طلوع نیوز او ځینې رسنیو بې اساسه راپور خپور کړی چـــې له حقیقت ډېر لرې او غیر مسؤولانه راپور دی). نوموړي زیاته کړې، چې په ننګرهار کې له تېر یوه کال راهیسې د پولیو هیڅ مثبته پېښه نه ده ثبت شوې. ۷مخ

شیخ شهاب‌الدین دلاور

# د ښوونځیو او پوهنتونونو لپاره له مناسبو شرایطو برابرولو وروسته به ښوونیز بهیر پیل شي




شریعت: د کانونو او پټرولیم وزیر شیخ شهاب الدین دلاور پرون خبریالانو ته ویلي، چې د ښوونځیو او پوهنتونونو په اړه به ژر تصمیم ونیول شي.
شیخ شـــهاب الدین دلاور رسنیو ته وویل: د ښوونځیو او پوهنتونونو لپاره د مناسبو شرایطو له برابرولو وروسته د ښوونیز او زده کړې بهیر پیلېږي.
هغـــه زیاتـــوي، اوس مهال پـــه ډېرو ولایتونو کې ښـــوونځي او پوهنتونونه رخصت دي، تر حمل میاشـــتې به د ښوونځیو، لیسو او پوهنتونو په اړه داسې تصمیم ونیول شي چې له شریعت او افغاني دودونو سره ... ۷مخ

## د قرغې بند به په یوه غوره تفریحي او زرغونه سیمه بدل شي



د کابل ښـــاروالۍ د زرغونتیا ریاست څرګنده کړې د دغه ریاست له لوري د قرغې بند په لوړو غونډیو کې، چې څه موده مخکې د اوبو د یوې زېرمې او د ونو د خړوب پر سیستم کار پیل شوی و؛ اوس هم روان دی.
د کابـــل ښـــاروالۍ د زرغونتیا رییس ویلي؛ د یادې سیمې د پراختیا لپاره په دې وروستیو کې ... ۷مخ

کمیتهٔ جمع‌آوری گداها:

## بیش از ۲۲ هزار گدا از شهر کابل جمع‌آوری شده است

شریعت: کمیتهٔ جمع‌آوری گداها، بیســـت و دو هزار و یک صد و بیســـت و پنج گـــدا را از مناطق مختلف شـــهر کابل، از آغاز این برنامه تا ششـــم جدی سال‌روان، جمع‌آوری نموده است.
معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزرا دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت که از میان گداهایی جمع‌آوری شده ۱۱ هزار و ٤۳۱ آن زنان استند که پس از ارزیابی چهار هزار و ۸۳۹ تن آنان مســـتحق و شش هزار و ۵۹۲ تن دیگر شان گداهای حرفه یی شناسایی شده‌اند.
در همین‌حال، از میان این گداها، دو هزار و ۵٤۵ تن آن مردان استند که پـــس از ارزیابی ۸۹۹ تن آنان مستحق و ... ص۷

## کندز کې څه د پاسه ۴۲ زره جریبه دولتي ځمکه له غصب څخه خلاصه شوه




د کندز د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مســـوولین وایي، چې په یاد ولایت کې ۴۲ زره ۵۵۹ جریبه دولتي ځمکه یې د دوو میاشتو په موده کې د غاصبینو له منګولو خلاصه کړې ده.
د کندز د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوي امان الله حسن د باختر آژانس خبریال تـــه وویل، چې له دې وړاندې د مرکز په ګډون د یاد ولایت په قلعه زال او امام صاحب ... ۷مخ

## ننګرهار کې د ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت د دریو ښوونځیو ودانۍ ورغول شوې



د ننګرهار د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په هسکه مینه او پچیراګام ولسوالیو کې د ۳ ښوونځیو ودانۍ د سویډن موسسې په مالي ملاتړ بیا ورغول شوې. د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د ننګرهار ... ۷مخ

## کندز کې کوچیانو ته ۱۸ سیمه ییز ټولګي پرانیستل‌شول

د کندز د ســـرحدنو، قومونو او قبایلو چارو ریاست مســـولین وایي، چې د دې ولایت مېشتو کوچیانو د نجونو او هلکانو لپاره ۱۸ سیمه ییز ټولګي جوړ کړي دي.
د کندز سرحدنو قومونو او قبایلو چارو ریاست مسوولینو باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت د باســـواده کوچي ځوانانو لخوا له زده کـــړو محرومو کوچیانو تـــه د پوهنې ریاست د ســـواد زده کړې آمریت په مرســـته د لیک لوســـت زده کړې ۱۸ ټولګي جوړ کړي دي.
یاد ټولګـــي د کوچـــي ځوانانو لخوا پرانیستل شوي، چې د پوهنې ریاست د سواد زده کړې آمریت له لوري پرې تدریسي توکي ووېشل شول.
د یادونې وړ ده، چې په یادو ټولګیو کې بـــه ۶۰۰ زده کوونکي د یو کال لپاره په وړیا ډول زده کړې وکړي.


سرمقاله


## د شریعت په نفاذ کې لومړیتوب پېژندنه مهم اصل دی!

مسلمان علماء او څېړونکي ټول په دې کې یو نظر او یوه خوله دي چې اسلامي شـــریعت کاملاً یوه شامله او واضحه تګلاره ده چې ګرد سره احکام یې اسماني او د وحیې په واســـطه ځمکې ته راغلي دي. البته د نفاذ او تطبیق په لړ کې یې د لومړیتوبونو پېژندنه بیا د پوهانو او حکامو اجتهاد او بصیرت پورې اړه لري. مثلاً علماء باید معلومه کړي چې د مسلمانانو له یوې سیمې د کفري واکمنۍ تر شړلو وروسته تر ټولو مهم معروف څه دی چې د اجراء لپاره یې د حاکم له خوا تصمیم ونیول شي او همدا رنګه بیا ورپسې په دویمه مرتبه، دریمه او نورو کې څه او کوم اعمال دي. د منکراتو په هکله هم دغه راز فکر په کار دی چې لومړي سرکې ډېر خطرناک څه دي چې د مخنیوي لپاره یې ګامونه واخیستل شي. خوله دې سره سره بیا دې باریکي ته هم پام کول په کار دي چې ایا اوس خو به د یاد منکر د مخنیوي هڅې پریو بل فســـاد نه منتج کیږي ځکه په دې صورت کې بیا واکمنوته ښوونه شوې چې دیو مناسب فرصت انتظار وکړي.
مقصد دا دی چې د اسلامی نظام په تطبیق کې تدریج، مصالح او مناسب حالات کتل او په نظر کې نیول هغه څه دي چې، د احکامو اجراء اسانه کوي او د وخت او ځواک د ضایع کېدو مخه نیسي. په دې لړ کې د نبوي سیرت او اسلامي تاریخ پاڼوکې خورا ډېر درســـونه، عبرتونه او د ګټې بایلات زښته ډېرې تجربې زموږ پر وړاندې شتون لري. تردې چې همدې وروستیو پېړیو کې هم ډېری اسلامي هېوادو کې د شریعت د نفاذ هڅې له دې وجې ناکامې شوې دي چې اولیات او کمالیات یې نه وو ســـره جلا کړي او د لومړیتوبونو په تشـــخیص کې خطا شوي وو. کله کله داسې هم شوي چې د ځینو سیمو علماء او حکام د خپلو ولسونو له رواج او کلتوره اغېز من وي او یا د ځاني سلیقو په غوښتنه چلېدلي چې پایله یې طبعاً له نورو علماؤ ســـره اختلاف دی. ځکه دا مهال چې زیاترو مسلمانو قومونو کې اسلام ترڅوارلسمې او پنځلسمې پېړۍ رسېدلي او بیلابیل فرعی احکام یې ځینو سیمو کې د عوامو په ملي رسم و رواج بدل شوي، طبیعی ده چې ځینو به یو رسم خپل کړی او ځینو بل ټینګ نیولی وي. ما ناځینو به یوه فرعی مسأله فرضوته رسولې او نورو به کوم بل جزیي حکم ان په عقایدو کې شـــمېرلی وي. چې دا ډول مثالونه موږ خپل هېواد کې هم زښته ډېر موندلی شو. دغه ډول فروعي مسایلو کې نښتل زیاتره وخت د جوماتونو شـــاړېدو، ورانېدو، جنګ جګړو او د امامانو او خطیبانو تر وژلو پورې هم رســـېدلي او دا مو هم ولیدل چې یو او بل لوري د خپلو رقیبانو له ضده پردیو صلیبي لښـــکرو سره هم مرسته وکړه. مطلب دا چې اوس زموږ د علماؤ مهم مسؤلیت دا دی چې لومړیتوب تشخیص کړي. یعنی د شریعت روح، اصلي مفهوم او د اسلامي نظام مقاصد و پېژني او هڅه وکړي چې د ژور سوچ او بنیادي څېړنې پر مټ د خپلو سلیقوي مزاجونو پردې څیرې او د الهي دین اساسي غوښتنې خلکوته په ښه ډول تشریح او تطبیق ته یې راوبولي. ۷مخ

## د (ډیپلوماتیک تخصصي روزنیز پروګرام) تر نامه لاندې لنډمهاله کورس پیل شو

شـــریعت: د بهرنیو چـــارو وزارت په ډیپلوماسۍ ریاست کې د(ډیپلوماتیک تخصصي روزنیز پروګـــرام) تر نامه لاندې لنډمهاله کورس پیل شو.
د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال په خپل ټویټر کې د دې خبر په خپرولو سره ویلي چې په دې کورس کې د یو ډېرش مختلفـــو وزارتونو او اداراتو کې شمېر کارکوونکي برخه لري او درې میاشتې به دوام کوي.
د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال ویاند حافظ ضیا احمـــد زیاته کړې ده چې پـــه دی پروګرام کـــې به متخصصین استاذان د ډیپلوماسۍ مباني، ۷مخ

## افغاني سره میاشت په کومو برخو کې مرستې کوي؟

### د افغاني سرې میاشتې له ویاند سره د شریعت ورځپاڼې ځانګړې مرکه

هېـــوادوال مـــو ځلوېښـــت کلنـــې جګـــړې پـــه هـــره برخـــه کـــې کافي ځپلـــې دي او لـــه ګڼو مشـــکلاتو سره یـــې مـــخ کـــړي دي.
کـــه څـــه هـــم د اســـلامي امـــارت واک تـــه رسېـــدو ســـره پـــه ســـتونزو او مشـــکلاتو کـــې کمـــوالی راغلـــی؛ خـــو اوس هـــم یـــوه لویـــه ســـتونزه چـــې زمونـــږ زیاتره هېـــوادوال ورسره لاس او ګرېـــوان دي. فقـــر او بېوزلـــي ده چـــې لا ډېـــرې مرستـــې تـــه اړتیـــا لـــري.
ګـــڼ خیریـــه بنســـټونه او داخلـــي او خـــاري موسســـأت پـــه مختلفـــو برخـــو کـــې لـــه بېوزلـــو ســـره مرستـــې کـــوي، چـــې یـــو د هغـــو لـــه جملـــې څخـــه د افغانـــي ســـرې میاشـــتې ټولنـــه ده. دا چـــې افغانـــي ســـره میاشـــت پـــه کومـــو برخـــو کـــې مرســـته کـــوي، پـــه څـــه ډول مرســـته کـــوي، ډېـــرې مرســـته پـــه کومـــه ... ۶مـــخ

## کشف یک مخفیگاه سلاح در پروان و بازداشت سه تن در پیوند به نگهداری مهمات



شـــریعت: نیروهای وزارت دفاع ملـــی یـــک مخفیگاه ســـلاح و مهمات را در پروان، کشـــف و ضبط نمودند.
دفترمطبوعاتی وزارت دفاع ملی دیروز با نشـــراین خبر گفت که یک مخفیگاه سلاح ... ص۷

## تثبیت هزاران جریب زمین غصب شده در تخار و ننگرهار

شریعت:هیأت تخنیکی کمیسیون واپس گیـــری زمین‌های غصب شـــده چهار هزار جریب زمین را که در تخار غصب شـــده بود، تثبیت کرد.
وزارت عدلیه با نشـــر خبرنامه یی گفته اســـت؛ هیـــأت واپس گیری زمین‌های غصب شـــده این زمین‌ها را در مربوطات قریه چرمگری شـــهر کهنه و تنگی فرخار شهر تالقان تثبیت نمودند.
در همین حـــال وزارت عدلیه از تثبیت یک هـــزار جریب زمین غصب شده در ننگرهار ... ص۷


دا سپېڅلی نظام له خپلوی او اندېوالۍ مه قربانوئ! ۲مخ

د سیرت لوستنه؛ د بریالي ژوندانه غوره لارښود! ٦مخ

ششم جدی روز سیاه در تاریخ کشور ص٤


## کابل کې له ۲۰۰ اړمنو کورنیو سره د سون توکو مرسته‌وشوه

د ګلبهار په نوم یوه خیریه بنسټ پرون په کابل کې له ۲۰۰ اړمنو کورنیو سره د سون توکو مرسته‌وکړه.
د یاد بنســـټ د رسنیو مسوول او ویاند محمد عمر ځواک وایـــي، چې دغه ۲۰۰ کورنیو سروې په تېرو ۲ میاشتو کې د یوې شـــفافې پروسې په لړ کې ترسره‌شوې او په پایله کې یې مستحقې ګڼل شوې دي.
د ځواک په خبره د سون توکو د مرستې په دغه لړۍ کې هرې اړمنې کورنۍ ته ۸۰ منه لرګي ورکـــول کېږي، ترڅو د روان ژمي په موسم کې ترې د کورنو د ګرمونو په موخه کار واخلي.
سرچینې زیاته‌کړه؛ ګلبهار بنسټ هڅه کوي تر څو پـــه روان ژمي کې د نورو اړمنو هېوادوالو لاسنیوی هم‌وکړي او په پام کې ده، چې په نږدې ... ۷مخ

## برگزاری نشستی به‌منظور مطالعه و تجزیه کیفی محصولات دوایی وارداتی



شـــریعت: به ریاست رییس امور فرهنگـــی و اجتماعی ریاســـت عمومـــی ادارهٔ امـــور نشســـت هماهنگی به‌منظور مطالعه و تجزیه کیفی محصولات فارمسیوتیکی توریدی برگزار شد. ص۷

## د خاصې قطعې ځواکونو په چوکاټ کې ۴۳ تنه سرتیري وروزل شول

شریعت: د اســـلامي امارت ۴۳ تنه مجاهدین د یو لړمراسمو په ترڅ کې چې یو شـــمیر امنیتي او ســـیمه ییزو چاروا کـــو په کې ګډون کـــړی وو، له قطعه خاص څخه فارغ شول.
په دغه غونـــډه کې د لغمـــان امنیې قومندان مولوي نجیب الله بدخشي فارغو شـــویو ســـرتېرو ته په وینا کې وویل، چې په پوره صداقت او اخلاص به د اسلامي نظام حفاظت، ساتنه او پالنه کوي. ۷مخ




سالمزی

زما نظر دادی چې موږ باید د دنیا په دې خاورینه کره او نړیـوال کلي کې له میشتو اسـتوګنو سره ښه راشه درشه او نیکې اړیکې ولرو پداسې حال کې چې د بشریت ستر لارښـود نبی کریم صلی الله علیه وسـلم د یو یهـودي ګاونډي په درلودلو سره په کور کې پـدې تاکید کوي چې د غوښې په کټوۍ کې او به ورزیاتې کړئ چې ښـوروا یې یهودي ګاونډي ته هم ورسیږي د پیغمبر صلی الله علیه وسـلم په همدغه نیکو اخلاقو د اسـلام ډیرو دښمنانو ایمان راوړ او مسـلمانان شول، هغه مبارک له کفارو سره هم په ښـه ګاونډیتوب تینګار کاوه خو له بده مرغه موږ نن هغه څه کوو چې د مسـلمان له شان سره نه ښایي، نن موږ په خپلو سترګو وینو او ددغه صحنو عیني شاهدان یو چې یو مسلمان له بل مسـلمان سره څه کوي او همدا رنګه یو ګاونډي له بل ګاونډي سره څه ونکړل او څه نکوي. تیرو څلورو لسـیزو او جریاناتو موږ ته ثابته کړه چې له موږ سـره نړیوالو او همدا رنګه ګاونډیانو څه وکړل او څه یې ونکړل مسـلمان د اسلام په نامه دوکه کړو او د نړۍ اسـتعمار ګرو بیا زموږ هیواد، دنیا بتي او اسـتخباراتي جنګونو په ډګر بدل کړی موږ هم انسانان یو پدې خاورینه کره کې د دنیا د نورو ملتونو په څیر داوسیدو حق لرو او غواړو له نورو پر مختللو هیوادونو د استوګنو پـه څیر پر مختللی ژوندولرو یو د بل په چاروکـې له مداخلې ډه ډه وکړو د چا داډمن ژوند او امنیت ته تهدید پیښ نکړو یو له بل سـره مینه وکړو او پخپلو کې دوروری په فضاء کې ژوند وکړو، د انسـان مقام وپیژنو، عبادت وکړو او په دی امتحاني دنیا کې عقبی لپاره تیاری وکړو ترڅو په دغه ازموینه کې بریالي شـو او هغه نعمتونه ترلاسـه کړو چې دلته یې کرکیږي او هلته یې حاصل اخیستل کیږي، جذباتي سیاسـتونه هیڅ کله بریالي نه وي تیرو اوښتونونو او بدلونونوته په کتنه زموږ سیاسـتوال پدې ډګرکې له یوي مخې ناکام او هیڅ لاسـته راوړنه نلري او جذباتي سیاسـتونو یې زموږ هیواد، د نابودۍ ترکچې را تیټ، وروسته پاتي او حتي په یـوه حولناک ماحول تبدیل کړ، د اسـلامي امارت واک ته په رسیدو زیاتو ځوریدلو مسلمانانو د خوښـۍ احساس وکړ، د قدرت جزیر یې ختمې کړي، زورواکان وتښیدل د کابل ښار چې د غلاۀ په مرکز اوښتي ۀ له غلو پاک شـو د غصب لړۍ پای ته ورسیده او د ټولنې غوره قشر د نبي کریم صلی الله علیه وسـلم د ممبر وارثین او د اسلامي امت وروستۍ هیله چې د اطمعه له همدوي کیدای شـي واکمن شـول، د چارو واکې یې پلاس کې واخیستې، دردمند مسلمانان له خوښـۍ څخه په جامو کې نه ځایدل خو له بده مرغه ځیني عاجلو او جزباتي پریکړو دردمند مسلمانان نورهم پسي دردمند کړل لکه چې عربي معقوله ده: «د قهر او غوسـې لومړۍ مرحله لیونتوب او وروستۍ مرحله یې پښـیمانې ده زموږ ځوریدلی ملت نور هم وځو راوه پداسي حال کې چې میلیونونه انسانان د لوږې له ګواښ سره مخ دي، په ځای ددې چې موږ د تعلیم او تعلم په مخ کې پراته خنډونه او ستونزې هوارې کړو، د تعلیم د بندیدو پریکړه کیـږي ځکه چې پوهه او علم د بینا او ناپوهـه د ړوند او جاهل مثال ورکوي او زموږ د هیواد او ملت دښـمنانوته یو بل چانس ورکول کیږي چې ګویا افغانان هیڅ کله هم د دې وړتیا نلري چې په هیواد کې د یوه نظام او ملت رهبري وکړي او یو ځل بیا د پردیو دنیا بتي جنګونو لپاره داورخاشاک شو اسلام یو کامل دین دی چې د هر چا حقوق پکې خوندي او مسوول پکې د ملت خادم ګڼل کیږي موږ د قیامت په ورځ ایمان لرو او له هر چا سره د خپلو کړو وړو حساب کیږي لکه چې د حدیث شریف مفهوم دی: «د چا چې په خواکې ګاونډي وږی او دی موړوي پخپل ایمان دې وویریږي». پداسي حال کې چې زموږ په زرګونو مظلوم هیوادوال د ماښام ډوډۍ نلري خپل ځان مسؤل نه بولو له داسي پریکړو ډډه پکار ده چې د ملت او حکومت ترمنځ فاصله رامنځته کوي او هیلې په ناهیلۍ بدلوي موږ باید پدې فکر وکړو چې څرنګه او په کومه طریقه کولي شـو د پرمختګ او ترقۍ په لور چټک ګامونه واخلو ترڅو د نړۍ له پر مختللي کاروان سره یو ځای شو. دیوه ودان سرلوړی او خپلواک افغانستان په هیله. ومن الله توفیق

# دا سپېڅلی نظام له خپلوۍ او انډیوالۍ مه قربانوئ!

س. سعید «غلجی»



لکه څرنګه چې د دندې لپاره امانت داري او اخلاص شـرط دی، همدغه شـان مسلکیتوب هم شـرط دی. عموماً دا دوه صفتونه داسې سره تړلي دي، چې دواړو ته اړتیا لازم او ملزوم ده. که اخلاص وي، خو مسـلکیتوب نه وي، هغه دنده په ښه توګه نه تر سـره کیږي. او همدغه شان، که مسلکیتوب وي، خو اخلاص نه وي، بیا به هم کار نیمګړی وي.

حضرت یوسـف علیه السـلام چې خپل پاچا تـه د دندې وړاندیز وکړ، نو ورته ویې ویل چې زه سـاتونکی (امانت دار) هم یـم او پرې پوهیږم هم. همداراز؛ رسـول الله صلي الله علیه وسلم هم چې څوک پر کومه دنده ټاکلی، نو هغوی یې حتماً د تقوا او مسـلک په تله تللي. تر هغه مبارک وروسته، د راشـدینو خلفاؤ او نورو ټولو نیکو حاکمانو تګلاره همدا وه، هڅه به یې کوله، چې داسـې خلک وګماري، چې هغه دغه دواړه صفات ولري.

الله تعالی فرمایي ـــ ژباړه: «الله تعالی تاسـې ته امر کوي، چې امانتونه د هغوی اهل ته وسپارئ» سورة النساء. نو د الله تعالـی پر ځمکه حاکمیت هم یو امانت دی، مسـتحین یې هغه څوک دي، چې د الله تعالی او د هغه د رسول صلي الله علیه وسـلم په احکامو برابر وي. همداراز؛ رسول الله صلي الله علیه وسـلم فرمایلي: کله چې چارې نا اهلو ته وسپارل شي، د قیامت انتظار کوه. رواه البخاري

ابوبکر رضـي الله عنه د خپل خلافت پـر مهال د خالد بن ولید رضي الله عنه د لښـکر مشر وټاکه او د فارس لور ته یې واسـتاو، عمر رضي الله عنه پرې اعتراض وکړ، ویل تا خالد بن ولید مشـر وټاکه، حال دا چې په لښـکر کې د ابوعبیده رضي الله عنه په شـان د لـوړې مرتبې صحابي موجود دی، هغه چې د لومړنیو مسـلمانانو له جملې دی. ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل، سـمه ده، خو په جګړه کې خالد بن ولید ښـه مهارت لري. بیا عمر رضي الله عنـه وړاندیز وکړ، چې که ابوعبیده رضي الله عنه د لښـکر مشر وټاکې او هغه سره خالد بن ولید رضي الله عنه هم وي، نو اسـلامي لښکر به د ابوعبیده رضي الله عنه له نرمي او د خالد بن ولید رضي الله عنه له جنګي تکتیک دواړو برخمن شي.

نو لومړی خو باید هڅه وشـي، چې داسـې څـوک پر دنده وګمارل شـي، چې هغه هم د تقوا او اخلاص په ګاڼه سمبال وي او هم په هغه چاره کې ښه پوهه او مسلکیتوب ولري. بیا که داسـې څوک نه ؤ، نو د عمر رضي اللـه عنه فارموله ډېره غوره ده، یو متقي او مخلص کس دې مشـر وټاکل شـي او نور متخصص او مسـلکي اشـخاص دې ورسره معاونین او مأمورین وټاکل شي.

اسلامي امارت هم اوسـنیو حالاتو کې همدغه تګلاره غوره کړې، د وزارتونو په رأس کې یې با اعتماده، متقي او مخلص علماء ټاکلي او د هغوی ترلاس لاندې د خپل، خپل مسلک خلک پر کار بوخت دي.

خو متأسفانه، په ښکته ادارو کې ځینې مسؤلین د مسلکیتوب اصل ته هیڅ پاملرنه نه کوي، د خپلوي او ملګرتیا پر اساس؛ حتی داسې کسان هم پر دندو ګماري، چې هغوی هیڅ لیک، لوست نه شـي کولی، خو دوی یې د مجاهد په نامه مستحق ګڼي، حال دا چې بې شـمېره مسـلکي خلک پر دندو پسې لالهانده ګرځي. زموږ تکړه انجنیران، استادان او متخصصین موټروانې، دوکانداري، څوکیـداري او حتی پردیو هېوادونو کې مزدوري ته مجبور دي.

دا سـمه ده، چې مجاهد ډېر لوی فضیلت لـري او باید ډېر زیات قدر یې وشـي، خو په غیر مناسب ځای کې یې ټاکل، د هغـه قدر نه دی، بلکې دا یو لـوی خیانت دی، هم له الله تعالی سـره، هم له رسول الله سره، هم له نظام سره او هم له هماغه مجاهد سره.

ځکه چې که یو مجاهد په غیر مناسـب ځـای کې پر دنده وګمارل شي، نو هغه اداره هم ورسره شړیږي، مراجعین هم له ستونزو سره مخ کیږي، نظام هم کمزوری کیږي او بدنامیږي او هغه مجاهد هم په سـمه توګه خدمت نه شـي اداء کولی، کراره به ناست وي، نه کوم پرمختګ کولی شي او نه به یې چا ته کوم خیر رسیږي، بلکې معاش یې هم حرامیږي. نو د دغه شان ټاکنو، خیر ډېر دی، که زیان؟!

ځینې اداري داسـې وي، چـې هغه کې څه نا څه لوسـتی شخص دنده تر سره کولی شـي، یعنې دومره زیات مسلکي نه وي، خو ځینې چارې داسـې وي، چې هغه کې ملایان او طالبان هیڅ کار نه شـي کولی. مثلاً که یو شخص د مجاهد په نـوم د یو پیلوټ پر ځای وټاکې، نو هغه الوتکه غورځوي، ځان هم وژني او الوتکه هم له منځه وړي. دا خو یې ښـکاره مثال دی، داسـې کار هیڅوک نه کوي، ځکـه پر دې د ټولو سر خلاصیږي. خو همدغه شـان نورو تخنیکي ادارو ته هم باید په دې سـترګه وکتل شي، هلته هم که ته یو غیر مسلکي شـخص وټاکې، نو هغه اداره له منځـه وړي، فعالیت په ټپه ودریږي او ښایي نظام ته ډېر زیان ورسوي.

نو د اشـخاصو په ګمارلو کې ډېر احتیـاط وکړئ، دا نظام د اللـه تعالی امانت او د لکونو شـهیدانو د وینو قیمت دی، له خپلـوي او انډیوالي یې مه قربانـوئ. د علماؤ او مجاهدینو قدر پر خپل ځای وکړئ، په پوځ، پولیسو، استخباراتو او نورو مناسـبو ادارو کې یې وګمارئ او پر جوماتونو او مدرسو یې پـام وکړئ. همدا کفایت کوي، چې د نظام مشـري د علماؤ پـه لاس کې وي، جزئي چارو کې نور ولس ته هم د خدمت موقع ورکړئ. ولس کې ډېر داسې خلک شته چې هم دینداره دي او هم مسلکي.

الله تعالی دې زموږ ټول مسؤلین او مأمورین له دې سپېڅلي نظام سره له هر ډول غدر او خیانت څخه وساتي. آمین

# د مسلمانانو دا ته سوه کلن حکومت کولو راز!

فرید احمد (مبارز)

یوه ورځ قطب الدین ایبک ښکار ته ولاړ، هلته یې په هوسۍ پسي غشی وویشت، مګر کله چې د ښـکار په طرف ورغلی، ویې لیدل چې یو ښایسته ځوان د هغه په غشـي زخمي شوی دی او په خپلو وینو کې ترپیږي، تر دې پورې چې لږ ساعت وروسته هغه ځوان مړ سو، قطب الدین ایبک ډیر سخت خفه سو، د معلوماتو کولو څخه وروسته ورته معلومه سوه، چې نوموړی ځوان د نږدې کلي اوسیدونکی وو، د یوې سپین سري مور وروستۍ هیله او اُمید وو، ځوان ځنګل ته د لرګیو او خاشو پسي راغلی وو، هغه یې خرڅول خپل ځان او خپله مور به یې په ساتله.

قطب الدین ایبک د هغه ځوان جسد را واخیست، د هغه د کور په طرف روان سو، کله چې یې د مور سره ملاقي سو، ورته ویې ویل: په غلطۍ کي ستا زوی په غشي ویشـتلو راڅخه مړ سو، سپین سري مور یې یوه چیغه وکړه، پر مځکه ولویده، بې هوشه سوه، وروسته قطب الدین ایبک خپل ځان قاضي او محکمې ته وړاندي کړ، خپل جرم یې ورته ووایه او هم یې د پریکړې کولو پوره آزادي ورکړه.

قاضي مقدمه پیل کړه، هغه سپین سـرې مور یې عدالت ته راوغوښته او ورته یې وویل: کومه سزا چي تاسي وایاست هماغه ډول سزا به مجرم ته ورکول کیږي، سپین سري مور وویل: بیا به داسي بادشاه چیري پیدا سي، چي په خپله بادشاهۍ کي په خپل ځان مقدمه وچلوي، نوموړي زما زوی قصداً نه دی وژلی، د نن څخه وروسته قطب الدین زما زوی دی، او ما ورته د خپل زوی وینه وبخښله.

قاضـي هم قطب الدین بـري کړ او ورته یې وویل: که چیـري مو په عدالت کي معمولي د خپل بادشاهت څه زور او یا اثر ښکاره کړی وای، نو بیا مي سپین سري مور ته نه حواله کولې، بلکي خپله مي سزا درکوله، په دې خبره باندي قطب الدین خپل خنجر راویست قاضي ته یې وښوده او ورته یې وویل: زما دي په الله جَلَّ جَلَالُهُ قسم وي که چیري تا زما سره د یو مجرم په څیر معامله نه وای کړې او زما د پاچاهي خیال دي ساتلی وای، نو همدا خنجر مي په نس کي در ښخوی وژلې مي، همدې ته د بادشاهۍ اصل ویل کیږي.

# نظام او ولس

ثواب جان اسلام یار

دا یو منل شـوی حقیقت دی، چې نظام له ولس پرته شونی نه دی او ولس ته له دې پرته ژوند سـتونزمن او خورا مشکل دی. نظامونه له ولسـونو تشـکیل شـوي دي او په هر راز حالاتو کې یې له یو بل سـره نه شلېدونکې اړیکې وي.

له همدې امله ویل شـوي دي، چې د کوم نظام تر شـا دوه ډوله وګړي دیني عالمان او مشـران شتون ولري او ملاتړ یې کوي، دا به د تل لپاره پایښت او دوام مومي.

دغه راز دا هم ویل شوي دي، چې کوم نظام د خپلو ولسونو پر مټ ولاړ وي، هیڅکله به و نه غورځي.

همدارنګه ولسـونه دېته اړ دي، چې د خپلـو چارو تنظیم، عامه نظم، ډاډمن امنیت، ښوونیزو او زده کړیزو اسانتیاوو، د هـر ډول پرمختګ، تمدُن، اقتصـادي ودې او یووالي په موخه تر یو نظام او قانون لاندې ښـه ژوند ته ادامه ورکړي.

موږ ته په نن کې شـدیده اړتیا ده، څو ورځ تر بلې لا قوي، غښتلي، متحد او متفق شو، موږ کافره نړۍ د همدې یووالي پر مټ د الله عز وجل په نصرت سـره کاملًا ماته کړه.

افغان غیور او مبارز ولس د ۱.۱.۱ تر شاه کلک ودرېد، د دوی ملاتړ یې وکړ، د ټولو سـتونزو پر مهال یې ملا ور وتړله.

خپل غـــازیان ورونه یې بدرګه کړل، ویې نازول، تشویق یې کړل، د بریاوو او فتوحاتو په زړه وړونکو او ډاډ ښېنـونکو صحنو کې یې د اتلانو د تکبیر له ملکوتي غږونو سـره خپل غږونه مل کړل په جوش، ولولو یې د واک او واکې تر چوکیو ګډ مزل ورسره وکړ.

لنډه غرېزم، فتنه ګر، شـریر او مُفسد عناصر یې په شریکه له ګران هیواده ورسره جارو کړل او د اسلامي نـــظـــام پیاوړتیا په برخه کې یې د بشـپړ ملاتـړ او هر راز همکارۍ ژمنې وکړې.

بل پلو د ۱.۱.۱ مـــجــاهــدینو په ولس کې پیاوړې رېښې او قوي نفوذ درلود، د اسـلام، ولس او خاورې څخه د دفاع په

ډګر کې یې په بې سـارې توګه د زبرځواک پر وړاندې د سر او مال قربانۍ ورکړې.

د مسلمان ولس سر، مال، ابرو او ناموس ساتنه یې په داسې سربښـندنو وکړه، چې له خپلو ګلورینـو بدنونو یې بمونه او اورونه تاو کړل، د ملت او ولس سـره کړې ژمنې یې رښتینې کړې، هیواد ته یې رښـتینې آزادي او خپلواکي راوړه او دلته یې یو بشپړ اسـلامي نـظـام حاکم کړ.

له همدې امله تر ټولـو اړینه ده، چې د نظام او ولس ترمنځ هیڅ فاصله شتون ونلري، د بنیان مرصوص او د یوې ودانۍ خښـتو په څېر د یو بل ترڅنګ او شا کلک ملاتړي شي.

دغه راز اړینه بولو څو یاده کړو، چې: په ټولنیزو رسـنیو کې هیڅکله باید داسـې څه نشـر او خپاره نکړو، چې د نظام تخریب او د ولس تشویش باعث ګرځي.

موږ باید په رسنیز او خپرنیز ډګر کې پوره سوچ او هر اړخیز فکـر وکړو، هره خبره او جمله مو د هغـو مخالفینو له اړخه شارل کېږي او په رنګا رنګ نومونو یې بدلوي، څوک چې په ذهني او فکري رنځ لګیا دي او د غربي ځواک خوشـالۍ په پار د حاکم نظام په خلاف همېشه د فکري جګړې په کمین کې ناست دي، دوی ته که موقع او چانس په لاس ورشي، د اسلام او مسلمانانو په ضد هره کړنه سرته رسوي.

کُفر ته ژمـن وګړي او د غربي دیموکراسـۍ اصلي زامن به تل د مسلمان اُمت د پاشـل کېدو او په ټول توان د دوی بې اتفاقۍ کوششونو څخه ځانونه دریغ نکړي.

تېر تاریخونه او د عثماني خـــلافـــت سقوط ددې ښې بېلګې دي، چې کُـــفارو د څو تش په نوم مسـلمانانو په لاس د سـوچه مسـلمانانو په منځ کې اختلاف ته ژور کار کـړی دی، د خپلو بادارانو خوشـالۍ لپاره یې د څو پیسـو په بدل کې پردیو ته جاسوسـي کـړې ده او خپل ورونه یې پلورلي دي.

دا هـم تاریخ ثابته کړې ده، چې افغانـان یو موټی متحد او متفِق ملت دی، دوی د نړۍ زبر ځواکونو په هیڅ وخت کې سـره بېل کړي نه دي، له هر ډول فشار، زر او زور څخه یې پرې کار اخیستی دی، خو دا ولس لکه اوبه له هر وار ګوزار وروسته بیا سره وصل او نښلېدلی دی.

نن مـو چې حاکم نظام په بشـپړه توګه د خپلـو افغانانو او د ټولنې له سـپیڅلي طبقې دیني عالمانـو او مـجاهـدینو څخه جوړ او تشکیل شوی دی، ټول د یوې سوچه اسـلامي نظریې او مضبوطې عقیدې درلودونکي دي او هم مو ولس په ورته نظریه او عقیده ښکلی شوی دی؛ نو هیڅکله به دلته د اشغالګرو شومې موخې پلې نشي.

موږ ته لازم دي، چې ویښ، ځیرک، فعال او بیدار و اوسـو، له یو بل سره بې سارې مینه، خپل یووالی همداسې همېشنی او تلپاتې وساتو او هم د اسـلامي اُمت هغو سپیڅلو هیلو او موخو ته ورسـېږو، چې یوازې او یوازې یې دلته په حاکم نظام او افغانانو پورې تړلې دي.

# د ښځو نوي مسئلې

**لیکوال: مفتي صادق شاه (فاضل دارالعلوم کراچی) / ژباړن: ساجدالله / اتلسمه برخه**

### د ښځینه وو د لاریون کولو حکم

د ټولنې پایښت (بقاء) د نارینه او ښځینه وو په ګډ ژوند و ژواک پورې تړلی. په دې کې د نارینه په څېر ښځینه هم حقونه لري. «۱» د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره مبارزه یا د هغو د غوښتلو په شریعت کې کوم بندیز نشته، څنګه چې نارینه د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو غوښتنه کولی شي. همدراز د ښځینه وو لپاره هم کوم خنډ نشته. ښځینه چې د خپلو حقوقو د راژوندي کولو لپاره خپل شخصیت پایمالوي، نو د خیانت مترادف ده.

ښځینه که د لاریون کولو په اساس خپل حقونه نه غواړي، له دې امله د ښځینه وو غونډې او لاریونه یا په نورو اجتماعي لارو چارو سره چې کوم کارونه رامنځ ته کیږي، ناجائز او حرام دي.

که چېرې د ښځینه وو په دې ډول لاریونو کې کوم ډول بې حیائي او یا د شرعې خلاف کوم کار هدف وي، خو اوسنیو حالاتو ته په کتو سره دا خبره له هیچا پټه نه ده چې ښځینه د خپلو حقونو لپاره خپل غږ پورته کوي، نارې وهي یا د کرکې څرګندونې لپاره د خپلو هغو غړیو ښکاره کول، لازمي وي، چې له عذره پرته یې څرګندول شریعت حرام کړي دي او ښځینه هغه له پښو نه لاندې کوي، بلکې د داسې غونډو او لاریونونو په اساس د دیني یا دنیاوي حقوقو ترلاسه کولو هدف وي، نو په هغه کې څه ګنجایش شته. «۲»

۱ ــ سورة البقرة (۲۳۸) آیت او سورة النساء (۳۲) آیت.

۲ ــ سنن أبي داؤد کتاب النکاح (۲۹۲/۱) او فتاوی حقانیة (۳۵۸/۲)

### د ښځو اوږده نوکان ساتل

سپېڅلي شریعت د نوکانو غوڅول، د فطرت له کارونو (امورو) څخه ګڼلي او د هغو لپاره یې ورځ هم ټاکلې، یعنې اونۍ کې یو ځل پرې کول یې مستحب او له پینځلسو ورځو وروسته جائز او له څلوېښتو اخوا؛ مکروه دي، چې انسان پرې ګناهګاریږي. په دې اساس د ښځو او سړیو لپاره د فیشن (ډول او سینګار) په توګه اوږده نوکان ساتل مکروه دي. «۱»

۱ ــ الدر المختار، کتاب الحظر والاباحة، فصل فی النظر والمس (۱۸۷/۵) او الفتاوی الهندیة (۳۵۷/۵)

### د ښځینه مال چې د نصاب په اندازه وي؛ زکات پرې واجب دی

سپېڅلي شریعت د زکات په اړه اصول ټاکلي دي چې د چا ملکیت د نصاب په اندازه مال وي؛ هغه که نقد یا ګاڼه وي او یا سرو او سپینو زرو په شکل کې وي او یا هم د سوداګرۍ مال وي او د تجارت له ماله هغه شیان مراد دي، چې د سوداګرۍ په نیت یې اخیستي وي، چې په هغه کې د زمکې ټوټه او نور هم راځي.

په دې اساس، نن سبا چې کومې ښځې سوداګري کوي او د نصاب اندازې مال څښتنه شي، پر هغې زکات ورکول واجب دي. که چېرې د هغې خاوند تبرُعاً (د بخشش په توګه) د دې له اړخه زکات ورکړي یا یې ښځینه ترې واخلي او اداء یې کړي یا هغه خرڅ (لګښت) چې د هغې خاوند یې دې ته ورکوي، له هغه څخه یې ورکړي، نو دا جائز دی. او که هیڅ هم ونشي، بیا د دې ښځې له ګاڼې، سرو زرو، زمکې او نورو څخه زکات ورکول، لازم دي. «۱»

۱ ــ الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الزکاة (۲۵۸/۲) او تبیین الحقائق، کتاب الزکاة (۸۲/۲)

### د سرو زرو پر غاښ او پوزه باندې د زکات حکم

په ځینو حالاتو کې د ځانګړې مصلحت له مخې د سرو زرو او سپینو زرو مصنوعي غړي کارېږي، لکه: پوزه، غاښ او د تشو غاښونو له زرو ډکول. د سرو زرو په تارونو سره د غاښونو پوښلو او نورو همدا حکم دی. که هغه په اسانۍ سره وېستل کیږي، نو په هغه باندې زکات واجب شو؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ګاڼې باندې زکات واجب کړی دی. خو که چېرې په اسانۍ نه وېستل کېده، بلکې په مستقل ډول لګول او د انسان د بدن د یو غړي په څېر شوې وي، چې بېلول یې ناشوني او د هغه له اساسي اړتیاوو څخه شمېرل کېده، نو په دې شیانو کې زکات نشته. «۱»

۱ ــ ردالمحتار علی الدرالمختار، کتاب الزکاة (۲۶۶/۲) وأیضا ذکر فی امداد الفتاوی، کتاب الزکاة والصدقة (۷۸/۲).

### د ختیځو هېوادونو د حاجیانو لپاره د احرام تړلو ځای (میقات)

نن سبا له ختیځو هېوادونو څخه حج ته د تلونکو کسانو لپاره دوې لارې دي؛ یوه هوایي او بله بحري. د الوتکو لاره عموماً پر وچه باندې ده، چې نېغه قرن المنازل دی. الوتکې په دواړو (قرن المنازل او ذات العرق) باندې تیریږي. له تېرېدو مخکې احرام تړل لازم او واجب دي. په هوایي سفر (الوتکو) کې د قرن المنازل معلومول هم ناشوني دي، چې څه وخت او کله الوتکه پر قرن المنازل باندې تیریږي، نو د افغانستان، پاکستان، هندوستان او نور هېوادونه حاجیان د احتیاط له مخې په الوتکه کې له سپرېدو وړاندې احرام وتړي.

که چېرې له احرامه پرته د قرن المنازل په برابر الوتکه تېره شوه، بیا جدې ته ورسېده، احرام یې وتاړه، له احرامه پرته له میقاته تېرېدلو باندې هرومرو ګناهګار شو؛ خو (دم) نه واجبیږي، ځکه چې هغه د دویم میقات ته ووت اول ه هغه ځایه یې احرام وتاړه. «۱»

۱ ــ الفتاوی الهندیة، الباب الثاني فی المواقیت (۲۲۱/۱)، بدائع الصنائع فصل وأما بیان مکان الاحرام (۱۵۹/۳ ــ ۱۶۳) او له فتاوي عثماني (۲۱۰/۲) کتاب الحج نه اخیستل شوی.

### په سمندري کښتۍ کې تلونکي حاجیان به له کومه ځایه احرام تړي؟

حج ته د تللو دویمه لاره سمندر (بحر) دی. ډېری علماء د هند د خلکو لپاره له (یلملم) څخه احرام تړل لازم بولي. له میقات څخه له احرام پرته تېرېدل، د حاجي په حق کې جنایت دی، چې له امله یې (دم) واجبیږي. «۱» یعنې یوه وزه به قرباني کوي او دا قرباني به په هندوستان کې نه کوي، بلکې پیسې به یوه کس ته ورکوي، څو هغه په حرم کې دا قرباني وکړي او دا احوطه مسئله ده. «۲» که څه هم ځینې علماء د دې منونکي دي، چې جدې ته له رسېدو وروسته هم د احرام تړلو ګنجایش شته؛ ځکه چې له هندوستان او نورو ختیځو هېوادونو څخه د تللو پر مهال (یلملم) مخې ته راځي او نه د هغه (یلملم) برابرتیا راځي.

مفتي محمد شفیع رحمه الله تعالی د دې مسئلې په اړه لیکي: په دې کې د علماؤ کرامو ختلاف دی. نو خلکو ته پکار ده چې احتیاطاً په سمندري کښتۍ کې له (یلملمه) احرام وتړي؛ ځکه د تصریح مطابق د فقهاؤ د اختلاف په ځای، د احتیاط لوری خپلول غوره دي. «۳»

۱ ــ بدائع الصنائع (۱۶۴/۳)

۲ ــ الفقه الاسلامي وأدلته، خامسا: مکان ذبح الهدي وزمانه (۲۳۶۸/۳)

۳ ــ جواهر الفقه، کتاب الحج، الیواقیت فی أحککام المواقیت (۵۴/۴) او فتاوی محمودیة، باب المواقیت (۳۷۵/۱۰)

# د قلم عفت!

**وقایت الله وقار**



ادبیات د ملتونو ساتونکي دي، د ارزښتونو له جملې دي او د ملت د ترقۍ او شاته تګ په معیارونو کې حسابیږي، هغوی چې نن په نړۍ راج لري، ادبیات یې هم پاچاهي کوي او داسې نه ده چې یوازې هغوی په منصب ناست دي، د هغوی ادبیات تر هغوی څو چنده زیات واکمن دي، د ننني واکمنو د واک محدوده کمه ده؛ خو د ادبیاتو دایره یې نړۍ ته غځېږي او دا پروسه یې په چټکۍ مخ ته ځي.

په عامو خبرو اترو کې ډېر کم وګړي داسې دي چې د ژبې عفت دې یې په دومره حد کې وي چې هاغه د سختې غوسې او مینې په حالت کې دې هم درانه وغږېږي او په اصطلاح پوچ الفاظ دې ونه وایي، مګر دا ډول خلک ډېر لږ دي، هماغسې لکه په وړو کې چې مالګه کمه ده، په خلکو کې ددغه ډول شتون هم کم رنګه دی. یو څه چې اعتراف پرې کېږي، همدا ټکی دی چې ډېر په ظاهر نېک او درانه خلک په ځینو مناسبتونو کې په عزت نه پاتې کېږي. مګر په دې اساس چې دا یو ډول عموم بلوی ده، خلک د انسان په عامو حالتونو حساب کوي، هغه کس چې په عادي ژوند کې په عفت غږېږي، ځینې استثنائي حالتونو ته یې نه کتل کېږي او دروند حسابیږي او هغه چې په عامه توګه پوچ دی، که په ځینو وختونو کې دروند هم شي؛ نو سپک حسابیږي.

دا د ټولنې د سیکې هغه مخ دی چې نه ثبتېږي، نه ورته اعتبار ورکول کېږي او نه ورته څوک چندان توجه کوي، مګر یو بل اړخ داسې دی چې هغه ثبتېږي، اعتبار لري او خپل څه چې پردي هم ورته پاملرنه کوي.

دویم اړخ د ادبیاتو دی، د قلمي مبارزې دی، د حالاتو، خاطرو، یادښتونو، تاریخونو، مسائلو او شننو د څېړنې دی چې په قلم پالل کېږي، په قلم لمانځل کېږي او په قلم باندې تر خپلو او پردو رسېږي. د دویم اړخ عفت تر لومړي ډېر اړین دی، ځکه ددې بې عفتۍ اغېز په ژبه، ادب او ټول فرهنګ تر پېړیو پېړیو پاتې کېږي او د لومړي ډول بې عفتۍ تأثیر شاید تر څو وګړو او څو شېبو پورې خاص وي.

که څه هم چې مونږ نه د دین او عقل غوښتنه داده چې په هر حال کې عفیف اوسو، لکه څنګه چې د ناموس او عزت سپېڅلتیا فریضه ده، دغسې نو د ژبې او قلم تقدس هم فرض دی، البته په دې سترګې نه شي پټېدای چې په درجو کې یې توپیر شته، مګر عفت هماغه عفت دی چې یوسف علیه السلام ورته په غلام حالت کې ځیر وو، (زلیخا) ته یې چې معاذ الله وویل، د همدې عفت لپاره وو او د هماغه فضیلتونو برکت وو چې دغه غلام یې پاچایۍ ته ورساوه، داسې پاچایي چې لکه د نن د پاچاهیو نه وه، هغوی د دنیا او آخرت دواړو مشري او عزت وګاټه او په دې کې د نورو لپاره نمونه شول.

د یوه قوم بې تهذیبي او اخلاقي زوال له ادبیاتو او فرهنګي ابزارو معلومېږي، کله چې د قوم په ادبیاتو کې لوڅ، فاحش او پوچ الفاظ ویل، کنځلې او ستغې کول، بدرد ویل او... کوم عیب نه ګڼل کېده، بیا نو دا قوم بې تهذیبه او د اخلاقي زوال په مزل دی او که د کوم قوم په ادبیاتو او قلمي مبارزه کې ناوړه الفاظ نه و او د کتابونو سپینې پاڼې یې په دغسې چټیاتو ناولې نه وې؛ نو دغه قوم مهذب دی، په اخلاقي جوهر پیاوړی دی او په معنوي توګه داسې متمدن دی چې اوسني د نړۍ د دریځ ډبوونکي ورته کله هم رسېدای نه شي! که څه هم چې دوی به ډېر واړه وي، ولې ددغه اخلاقي او واقعي فرهنګي کار ګټه به حتما اخلي.

په پښتو ژبه کې له عظیمو ظلمونو څخه یو ظلم دادی چې مونږ د قلم او ادب عفت ته پام نه کوو، زمونږ د ادبیاتو پوهاند، دکتور، د پوهنتون، ښوونځي او مدرسې استاذ، لیکوال، شاعر، ویناوال، مطرح سیاسي او علمي شخصیت او... دېته ځیر نه دي چې زمونږ لیکنه خو ثبتېږي، مونږ خو ددې بې ثوکه ملت په منځ کې (علمي کاردونه) ګڼل کېږو او مونږ ته د خلکو سترګې دي، خلک خو مونږ ګوري، ځوانان او نوی نسل خو په مونږ پسې را روان دی، داسې ولې وکړو؟ ددې پر ځای چې یوه خبره په تونده لهجه او په سپکو او سپورو کوو، ولې یې د احترام په جامه کې نه نغاړو؟ ولې د ځان د هوښیار، خېرخوا او مصلح ثابتولو لپاره داسې تګلاره ټاکو چې هغه نه په هوښیارۍ بناء ده، نه پکې خیرخواهي شته او نه پکې د اصلاح کوم څرک ښکاري.

بایده ده چې مونږ د قلمونو څوکې پاکې وساتو، په قلم باندې الله تعالی سوګند کړی دی او همدا یې د عزت لپاره بس ده، ددغه عزتمند مخلوق ناشکري همدا ده چې ناوړه یې وکاروو، دا نو هیڅکله د حق لپاره مبارزه نه ده او د امام مالک رحمه الله په تعبیر چې کله دې څوک ولیده چې د حق لپاره یې په دفاع کې بدرد ویل؛ نو پوه شه چې په نیت کې یې ستونزه شته، ځکه چې حق دغه ډول دفاع ته اړتیا نه لري.

# د اسلامي نظام قدر وکړئ!

**ډاکتر سیف الله «خالد»**

ای د الله ﷻ ولیانو تاسي خو لږ د خپل تېر تاریخ خوږو او ترخو پېښو پاڼي را وسپړئ بیابه پوه شئ چي موږ څوک یو، څوک شوو او د چا سره په مقابله کې قرار لرو؟ د اوسنی حاکم اسلامي نظام د بقا او استحکام په هکله د شکرانې لمنځونه او نیکي دعاوي وکړئ امریکایان او نور د اسلام قسم خوړلي توطئیه ګر دښمنان وپېژنئ او هم په یاد ولرئ چي زموږ اسلامي خاوري دوی څنګه تر خپل تسلط لاندي راوستلې؟ کومي توطئې یې په لاره اچولې او په راتلونکي کې کوم شوم پلانونه لري؟ ویښ اوسئ د دې نظام قدر وکړئ ډېر څه مو پرې قربان کړي هرڅه مو ورکي خوندي دي د ځمکي په سر هیڅوک داسي امیر او سپېڅلی نظام نه لري چي فقط وېره یې د الله ﷻ څخه وي او نور د نړۍ د هیڅ انسان پروا نه کوي. لکه څنګه مو چي مخکي د اسلام دښمنانو ته خپله میړانه او د توري زور ښودلی نن هم همداسي مستحکم اوسئ تاسي تاریخ وګورئ په ۱۸۰۵ ع کال کې امریکایانو پر طرابلس (اوسنۍ لیبیا) چي یو اسلامي ملک وو یرغل وکړ او د منځني ختیځ په دې اسلامي هیواد یې خپل بیرغ لوړ کړ چي د هغې زمانې مسلمانانو هم بغیر له کوم مقاومت څخه اسلامي خاوره په بیغیرتۍ او سرټیټۍ د یوه شرموونکي تړون په پایله کې امریکایي یرغلګرو ته پرېښوده. خو موږ او تاسو داسي و نه کړل د الله ﷻ په نصرت مو هغې مغروري نړۍ ته داسي ماتي ورکړه چي د نسلونو به یې په یاد وي همدارنګه که په همدې مدیترانه را وڅرخو په ۱۸۰۴ ع کال کې امریکایي ښکیلاګګرو د المغرب پلازمینې طنجې ته یو پیغام لیږلی وو چي په هغه کې یو سوال وو (سوله غواړئ که جګړه؟) د هغه وخت د غفلت په خوب ویدو بې احساسه مسلمانانو هم د یوه شرموونکي تړون په پایله کې نوموړی اسلامي ملک بغیر له کوم مقاومت او جګړې څخه امریکایي ښکیلاګګرو ته وسپاره. کوم مقاومت یې و نه کړ او تر اوسه هغوی د خپلو لوڼو ناموسونو او کورنیو اختیار نه لري د مدیترانې په غاړه پروت هیواد چي فقط د کښتیو کرایه د هغه ملک د ټولو مسلمانانو ټول مصارف پوره کولای شي خو نن هغوی د غلامۍ او اسارت په شکل په خپله قیمتي خاوره کې ژوند مخته وړي هغوی وینې نذرانه نه کړې الله ﷻ هم هغه اعزاز او ارزښت چي د دوی په قیمتي ځمکو کې یې ایښی وو ورڅخه واخیست که چیري هغوی اوس هم همت وکړي ان شاالله خپله خاوره به الله ﷻ بیرته ورکړي. موږ او تاسو خپله خاوره خپل شرعي نظام او خپل اختیار لرو د دې باید قدر وکړو. که چیرته د امریکایي اشغالګرو تاریخي مظالمو او فلان ګذاریو ته وګورو دوی هیڅکله تر ماتي وروسته بیا په قرار نه دي ناست یو په بل پسې توطئې او اوږد مهاله تخریبي پروګرامونه یې جوړ کړي او جوړوي یې که د همدې ۱۸۰۵ ع کال پېښو ته وګورو د تونس ارزښتمند اسلامي ملک هم د امریکایي یرغلګرو تر سختو بمباریو وروسته د خونخوارو امریکایانو لخوا اشغال شو دوی بیا په هغه زمانه کې په قرار نه وو ناست ورپسې یې یولس کاله وروسته په ۱۸۱۶ ع کال د الجزایر د اسارت تړون هم د نوموړي هیواد له سست مذهبو او له شهادت څخه تښتېدونکو مسلمانانو سره لاسلیک کړ چي تر اوسه هغوی د اسارت او غلامۍ ژوند لري هدف مو دادی چي د دوی سره به زموږ دښمني د قیامت تر ورځي پوري روانه وي هیڅکله د دښمن د تبلیغاتو تر اثر لاندي مه راځئ هره ورځ مو دښمنان لګیا دي تخریب کوي، خلک نر او ښځې په مختلفو بهانو د نظام په خلاف را پاروي ورته ویښ اوسئ، منفیات لټوي، په یوه او بله بهانه د نظام او اولس تر منځ واټنونه زیاتوي، هیڅکله اختلافي بحثونه مه کوئ یو بل ته په ښکلیو منطقي دلایلو قناعت ورکړئ، مخریبین مشخص او رسوا یې کړئ، د امیر الؤمنین حفظه الله هر فرمان چي شرعي ملحوظه نه وي ورکې او ان شاالله چي نه به وي د سر په سترګو یې و منئ اطاعت یې وکړئ، تل هڅه وکړئ خپل مخالف ته په جذباتو نه بلکي په مقنعو دلایلو قناعت ورکړئ، په اوسني وخت کې د نړۍ مطبوعات د اسلامي امارت تخریبوونکي هیوادونه وپیژنئ تر څار لاندي یې ونیسئ او ټولي تخریبي پروژې یې رسوا او بدیل یې ترمیمي اعمال تر سره کړئ.

# د جدي شپږمه؛
# د افغانستان د ټولو بدبختیو پیلامه!

**سمیع الله نهضتیار**



روسي ښکیلاک او د وخت مستبد او اشغالګر نظام زموږ پر هېواد هجوم راوړ ترڅو د کمونیزم د بویه بوټي تخم په افغان خاوره کې وکري، خو دوی لدې نا خبره وو چې افغانان د اشغالګرو ځواکونو حضـور یـوه ورځ هـم نـشي زغملـی، همـدا مېړنـی او باتـور ولـس را پورتـه او پـه تـش لاس د کمونیـزم اجیـرو اشـغالګرو ځواکونـو پـر وړانـدې و دریـده دوی او د دوی داخلي ګوډاګیانو تـه يې داسې درس ورکړ چې آن د دوی نسلونه بـه يې هـم هېـر نکـړي، د کمونیزم د مفکورې داستان داسې وتـړل شو چې نـن يـې استادان هـم پـه یادولـو د شرم او خجالـت احساس کـوي.

هـر افغـان بـه پخپلـه سیمه کـې لیـدلي وي او لا بـه يـې هـم ګـوري، هغـو چـې پـه ډېـر ویـاړ بـه يـې د لینن او نـورو کمونسـتو مشرانـو تصویرونـه پـه کـور، دفتر، موټـر او ځان سره ګرځـول خـو د کمونیـزم تـر شرمناکې ماتې وروسته داسې شرمېدلي او سر ټیټ پاتې شـول چـې د خپلـې مفکـورې یادونـه او ورنـه ننګـه کـول خـو لـرې خبـره ده، ظاهـري شـکل يـې بدل کـړی او تـر هـر چـا ځـان ښـه مسلمان ګڼي آن تـردې چـې بعضـې يـې د جهـاد او مجاهـدت دعـوا هـم کـوي.

ژونـدي د وي مسـلمانان مـړه د وي د اسـلام او مسـلمانانو دښـمنان

سر لـوړي د وي د حـق د لارې مبارزیـن او تـر خـاورو لانـدې دې د وي کمونیـزم

# د کار سړي باید معلوم شي!

**حسان مجاهد**

پـه هـره زمانـه کـې دکار سـړي ډېـر کـم وي او دداسـې کسـانو ډېـره قحطـي وي چـې کار پـه ښـه توګـه پـه پـوره وي. رسـول اللـه ﷺ فرمايـي: انسـانان پـه شـان د سـلو اوښـانو دي، چـې پـه سـلو اوښـانو کـې يـو دسـورلۍ او بـار اوښ نـه پیـدا کېږي.[ترمـذي او ابـن ماجـة] یعنـي کلـه چـې داوښـانو څښـتن پـه سـلو اوښـانو کـې وګـوري نـو دسـورلۍ او بـار لپـاره دخوښـې وړ پـه مـټ کـې يـو اوښ پیـدا کـړي. داشـان ناقـص او بـې ګټـې انسـانان ډېـر دي امـا کـمال داره، پـه احوالـو او اوصافـو کـې کامـل او دخوښـې وړ انسـان کـه پـه سـلو کـې يـو پيداشـو.

پـه بـل خبر کـې داسـې را نقـل شـوي: بـل داسـې شـی نشـته چـې تـر خپلـو زرو هـم نوعـو دي ښـه وي، مګـر یـوازې انسـان ده چـې کلـه يـو انسـان تـر زرو انسـانانو ښـه وي.

شـاعر هـم وايـي: اللـه تعالـی تـه دانـه ده سـخته چـې دټـولي نـرۍ کـمالات پـه يـو انسـان کـې راجمـع کـړي.

ابوبکـر صدیـق (رضي اللـه عنـه) بـه ویـل: پـه لښـکر کـې د ابـن عمـرو تمیمـي يـوه نـاره تـر زرو خلګـو غـوره ده.

عمـرو بـن عـاص رض دمـصر پـه فتحـه کـې لـه امیر المؤمنین عمـر بـن خطـاب رض څخـه کومـک وغوښـتل، عمـر رض ورتـه ولیـکل: دځلـورو زرو پـه مقابـل کـې مـې څلـور تنـه؛ زبیـر بـن عـوام، مقـداد بـن عمـرو، عبـاده بـن صامـت او مسـلمة بـن خالـد (رضـی اللـه عنهـم) کومـک تـه در ولیږل چـې هـر يـو لـه دوي څخـه دزرو کسـانو مقابلـه کـولای شي.

عمـر بـن خطـاب رض يـوه ورځ ملګـرو تـه وویـل: تاسـې دڅـه شي خواهـش لـرئ؟ يـو سـړي وويـل: کاشـکې مـې لـه سرو زرو څخـه ډک کـور داللـه تعالـی پـه لار کـې نفقـه کـړی وای! بـل وویـل: کاشـکې مـې لـه ملغلـرو، زبرجـدو، او جواهـرو څخـه ډک کـور داللـه تعالـی پـه لاره کـې نفقـه کـړی وای! عمـر رض وویـل: مګـر زه بیـا دا خواهـش لـرم؛ چـې کاشـکې دا کـور د ابـو عبیـده ابـن جراح رض پـه څیر انسانانو څخـه ډک وای!

اصمعـي رح وايـي: قتیبـه بـن مسـلم چـې د اهـل تـرک پـه مقابـل کـې دجنګ لپـاره صف برابـر کـړ، نـو يـې دمحمـد بـن واسـع رح پـه اړه وپوښـتل؟ چـا ورتـه وویـل: هغـه دلښکر پـه ښي طـرف کـې دخپـل غیـشي سره ولاړ ده او پـه خپلـه ګوتـه سره داسـمان لـوري تـه اشـاره کـوي. قتیبـه وویـل: دهغـه يـوه ګوتـه ماتـه تـر زرو مشـهورو تـورو او جنګیالیـو ځوانانـو خوښـه ده.

رسـول اللـه ﷺ چـې زیـد بـن ثابـت رضي اللـه عنـه تـه پـه یولـس کلنـۍ کـې د عـبراني ژبـې دزدکـړې امـر کـوي او وروسـته د وحیـې دلیکلـو کار ورسـپاري، اسـامه بـن زیـد رض تـه چـې پـه اولـس کلنـۍ کـې دیـوې سـترې جګـړې قومنـده سـپاري، ځـوان صحـابي مصعـب ابـن عمـیر رض چـې مدینـې منـورې تـه، ځـوان صحـابي حـضرت عـلي رض شـام تـه او ځـوان صحـابي معـاذ رض چـې یمـن تـه ددعـوت لپـاره لیـږي؛ دا هـر څـه لـه دې املـه چـې پـه دغـو صحابـه کرامـو کـې رسـول اللـه ﷺ دکار وړتیـا لیدلـه.

پـه نـن زمانـه کـې هـم دکار خلـک خـورا کـم شـوي دي، داسـې کسـان چـې کار پـه ښـه توګـه پـه پـوره وي؛ ډېـر کـم تـر سـترګو کیـږي. ځکـه نـو بایـد دژونـد پـه هـر اړخ کـې دکار سـړي معلـوم شي مثـلاً پـه کومـه مدرسـه کـې چـې اسـتاد يـو ذکـي او دینـداره طالـب ووينـي، کـه پـه يـو مکتـب کـې اسـتاد يـو بـا اسـتعداده محصـل ووينـي او کـه پـه يـوه اداره کـې مسـؤل پـه خپلـو ملګـرو کـې دقلـم او ژبـې څښـتن مجاهـد ووینـي؛ نـو بایـد دغـه کسـانو تـه ډېـره پاملرنـه وشي، دژونـد ضروریـات يـې پـوره شي، تـر نـورو ملګـرو امتیـاز ورکـړل شي، لـوړ رتبـه کسـانو تـه ور معـرفي شي او وخـت پـه وخـت مشـورې او سپارښـتنې ورکـړل شي، دلـوړ همـت انګیـزه ور وبخښـل شي او لـه خپلـو خدای ورکـړو اسـتعدادونو څخـه خـبر شي؛ ځکـه کیـدای شي پـه راتلونکـي کـې دغـه طالـب دوخـت علامـه او داسـلامي امـت يـو سـتر مصلـح وګـرزي، دغـه محصـل دنـړۍ پـه کچـه يـوه انسـان او سـتر سیاسـتوال وګـرزي او دغـه مجاهـد دهیـواد پـه کچـه وزیـر، رئیـس او دیـوې سـترې اداري مسؤل وګرزي او پـه دغـو کسـانو دهـر ډګـر تشـه را ډکـه شي، دا اوس چـې کـوم کارونـه دکومـو کسـانو پـه مـټ پـر مـخ روان دي؛ همیشـه خـو بـه دغـه دکار سـړي نـه وي ژونـدي نـو مـوږ تـه پـه کار ده چـې بایـد دکار او وړتیـا سـړي معلـوم کـړو او پـه کار دګمارلـو لپـاره يـې غـم وخـورو.

# هوښیار څوک دی؟

**مولوي نورالحق مظهري**

(فقهي اصل)

ژباړه: سفیان ویـلي دي: عمـر بـن العـاص فرمايـلي دي: هوښـیار هغـه نـدی چـې خـیر د شر څخـه پېژني بلکـې هوښـیار هغـه دی چـې پـه دوو شرو کـې غـوره پېژني.

یعنـي کلـه چـې انسـان د دوو تاوانونـو او ضررونـو تـر مینځ راځـي هوښـیار هغـه څـوک دی چـې هغـه لـږ ضرر و پېژني او پـه ګاللـو يـې ځـان د لـوی شر څخـه خـلاص کـړي؛ هغـه څـوک هوښـیار نـدی چـې خیر د شر څخـه جـلا کـولای سي ځکـه ددې کار تـوان خـو ډېـری خلـګ لـري.

پـه عمومـي ډول خـير او شر سره بېـل دي او د خـير جـلا کـول د شر څخـه دومـره سـخت کار هـم نـدی خـو پـه دوو تاوانونـو کـې د آسـانه او سـپک پېژنـدل او بیـا يـې پـه ګاللـو کـې د سـخت او غټ تـاوان څخـه د ځـان سـاتل ګـران کار دی ځکـه نـو عمـرو بـن العـاص رضي اللـه عنـه دغـه انسـان هوښـیار او عاقـل بـولي.

دا خـبره زمـوږ پـه فقـه کـې هـم يـو اصـل دی چـې: کلـه د دوو تاوانونـو تقابـل سره راسـي نـو د ډېـر تـاوان د دفـع کولـو لپـاره دي لـږ تـاوان وګاڵـل سي.

پـه تبیـین الحقائـق کتـاب کـې راځـي: کلـه چـې د دوارو تاوانونـو دفـع کـول ممکـن نـه وي نـو ارومـرو بـه د ډېـر تـاوان د دفـع کولـو لپـاره لـږ تـاوان ګاڵـل کیـږي.

پـه شرح کـې د سـیرالکبیر راځـي: کلـه چـې ځینـو خلګـو تـه د ضرر رسـولو څخـه مـوږ هیـڅ چـاره ونلـرو نـو هغـه لـږ ضرر تـه پـر ډېـر ضرر ترجیـح ورکـول کیـږي.

ددغـه اصـل او قانـون څخـه مـوږ د ژونـد پـه ټولـو چـارو کـې اسـتفاده کـولای سـو او پـه ټولـو غـير منصـوصي مسـائلو کـې يـې کارولای سـو.

# ششم جدی روز سیاه
# در تاریخ کشور

**محمدصادق طارق**



روزی کـه کشـور مـا مـورد اشـغال قشـون سـرخ شـوروی قـرار گرفـت. روزی کـه نایب‌السـلطنه‌ی قبلـی کشـور بـا جمعـی از اعضـای حـزب و دولـت در بیهوشـی پـس از غـذای مسـموم شـده بـه سـر می‌بـرد و از اریکـه‌ی قـدرت انداختـه شـد. روزی کـه شـاه شـجاع دیگـری بـا شـعار و دثـار تـازه‌ای اورنـگ قـدرت را تسـخیر نمـود. نویسـندگان و همـکاران محتـرم آنچـه را در ایـن موضـوع لازم دیده‌انـد ابـلاغ کرده‌انـد. کفایـت خواهـد کـرد کـه بگویـم: «فـرا رسـیدن سـالروز ششـم جـدی سـال جـاری بـا سـال‌های گذشـته متفـاوت اسـت چـون مـا پـس از شکسـت دادن بـه رقیـب شـوروی (آمریـکا)، کشـور خـود را از اشـغال تمـام ابـر قدرت‌هـای جهـان آزاد نمـوده و بـه تازه‌گـی یـوغ اسـتبداد آنـان را تکـه تکـه کردیـم» پـس مـن بـه یـاد تاریخـی کـه در کشـور عزیـز مـا افغانسـتان بـار دیگـر بـه شـکل دیگـری بـا شکسـت دادن آمریـکا تکـرار گردیـد، می‌نویسـم. بـه همیـن دلیـل لازم دیـدم بـه برخـی از تشـابهات دو اشـغال مسـتبدانه‌ی اشـغالگران بپـردازم کـه:

- در طـول هـر دو اشـغال مسـتبدانه‌ی مسـتکبران جهـان، هـزاران انسـان بی‌دفـاع میهـن عزیـز مـا بـه خـاک و خـون خفتـه و در ایـن راه آواره شـدند.
- در دو اشـغال پی‌هـم روس و آمریـکا هـزاران خانـه، باغهـا و راغهـا، پل‌هـا و پلچک‌هـا، مکتب‌هـا و مدرسـه‌ها، مسـجدها و خانقاه‌هـا، دشـت‌ها و دمن‌هـای کشـور عزیـز مـا بـه بمباردمان‌هـای هوایـی و زمینـی بسـته و نابـود شـدند.
- در ایـن دو اشـغال ظالمانـه‌ی اشـغالگران، میلیون‌هـا هموطنـان عزیـز مـا در کشـورهای گوناگـون جهـان سـرگردان گشـته و تـا امـروز بـه اسـم «مهاجـران افغـان» بی‌خانمـان انـد؛ نـه از نعمـت مانـدن در وطـن مسـتفید شـدند و نـه از لـذت پیشـرفت‌های کشـورهای بیگانـه‌گان بهـره بردنـد!.
- در درازنـای تهاجـم دو ابرقـدرت جهـان، هـزاران مـادران و خواهـران کشـور مـا بـه خاطـر از دسـت دادن فرزنـدان و همسـران خویـش اشـک ریختنـد و چه‌بسـی خواهرانـی کـه تـا هنـوز امیـد بازگشـت بـرادران گم‌گشـته‌ی خویـش را دارنـد!
- اشـغال کشـور مـا از کودکانـی حکایـت می‌کنـد کـه بـه خاطـر از دسـت دادن پـدران، مـادران، بـرادران و عزیـزان شـان اشـک ریختنـد، نالـه سـر دادنـد، زاری بـه راه انداختنـد و معصومیـت کودکانـه‌ی خودشـان را شـفیع قـرار دادنـد امـا نـه گریه‌هـای شـان شـنیده شـد و نـه بـه ناله‌هـای شـان توجـه صـورت گرفـت!.
- کشـور عزیـز مـا در مـدت ایـن دو اشـغال شـاهد بـود کـه هـزاران انسـان‌های بی‌دفـاع در زیـر شـکنجه‌های بی‌رحمانـه‌ی اشـغالگران خارجـی و هم‌پیمانـان داخلـی شـان بـدون هیـچ نـوع جـرم و جنایتـی یـا جـان باختنـد و یـا بـا رنج‌هـای فـراوان از سـلول‌های تاریـک و تک‌فـردی پل‌چرخـی، باگـرام و گوانتانامـو سـر کشـیده و در همانجـا پیـر شـدند.
- در درازنـای تهاجـم دو ابرقـدرت جهـان، هـزاران هموطـن مـا بـه اسـم تروریسـت‌ها در داخـل کشـور خودشـان بـا پهبادهـای اشـغالگران خارجـی زخمـی گشـته و تـا امـروز از نعمـت چشـم‌ها، دسـت‌ها، پاهـا و ناحیه‌هـای متفـاوت بـدن محـروم ماندنـد.
- امـا در طـول هـر دو اشـغال، هموطنـان عزیـز مـا بـا کمال جرئـت و شـجاعت کفـن پوشـیده و بـه نـام «مجاهدیـن یـا طالبـان» در راه اسـتقلال افغانسـتان جان‌هـای شـان را فـدا سـاختند. ارواح‌شـان خشـنود بـاد!
- حقـا کـه ایـن عزیـزان دلاورانـه بـه خاطـر نفـاذ و نفـوذ شـریعت نـاب اسـلامی، تحقـق اسـتقلال افغانسـتان و تامیـن آزادی و عدالـت اجتماعـی تـا پـای جـان رزمیدنـد!
- در نتیجـه، خداونـد متعـال هـر دو ابرقـدرت جهـان را بعـد از جان‌نثاری‌هـا و قربانی‌هـای ملـت غیـور مـا شکسـت داده و مـا را موفـق و کامیـاب سـاخت.
- پیـروزی ملـت خویـش را بـه تمـام ملـت تهنیـت عـرض مـی‌دارم؛ خداونـد متعـال مـا را در عرصه‌هـای سیاسـی، فکـری، فرهنگـی و اجتماعـی توفیـق دهـد.

**آمین**

## غزل

**سلطان محمود سالمزی**

د کــوم جـا بر ظلم ستم را یاد کړم!
په گــران وطن چې دا ماتم را یاد کړم
هیـر به یې نکـړم تـر قیـامته پـوري!
جنرال مالک او که دوستم را یاد کړم
شپږم د جدي هم محشر ؤ په مـوږ!
که داسـد اتـه ویشـتـم را یـاد کـړم
پدې مظلـوم ملت یې څه ونکـړل!
چې د غـوایې اوم، اتـم را یاد کـړم
سره له عقله کـومې خـواتـه ولاړل!
کـوم یـو ښـاغلی محتـرم را یاد کـړم
د انتقـام جذبه مي جوش کې راشي!
نوم چې د خلق او یا پرچم را یاد کړم
داخـاینـان د معـاف کـولـو نـدي!
سالمـزی کـوم یو په قلم را یاد کړم

## رازونه

**ملاعبدالسلام «ضعیف»**

زړه کې مي وســاتـل بـلا رازونه
پکښې پــراته دې د اشـــنا رازونه
څوک د ویلــو مي مــوندلي نه دي
چې ورتــه ووایــم پخــوا رازونه
گـــور ته بې یوســم که باور ونسو
د ستـــري ژوند او د ستـــړیا رازونه
مرجـــع مي وبایـل او بیــا ورپسي
د بـل او بــل پــه تمـــنا رازونه
د خـوب په څیــر اوبو ته نسم تللای
چې ورتــه ووایــم هـمـــدا رازونه
وینم زمـــان په منــډه منــډه درومي
تعبیـــر تــه نــه ځي د معـــنا رازونه
ضعیف به مړ سي خو ښکاره به نکړي
بــې وفـــا یـــار ته د وفـــا رازونه

## غزل

**تپاندزهاد**

ستــــرگی می اوښکي څڅوي او دي بانه مـــرور
ستا د هجـرانه څه خـــوږمن می دي دا زړه مــرور
خبــــری نه کوم احــوال و خوږ نسیم ته ور کـړم
ستا د وصال تږی یــم زه بس له هـــر څه مـــرور
عشقه تسـلیــم یـم تـــاتــه دوه لاسي سلام کومه
عشقه منـم دي له خپـــل بخـتـه یمه زه مـــرور
چې سلگگی ووهم ستا حضور کي مړ غوندي شم
ته به هـــم پـــوه شې چې زه یم د ژوندانه مــرور
د خــدای په لاره کي تــنــاکي ملغلـــري شې سم
خولې شې مشق عمبـــر عطـــر شې لامده مـرور
راشه ټکور مي د پرهر پـرهـــر تپـــونو شـــه ته
زړگی مي تاته ډالۍ کـــړي مســـتانــه مــرور
د شفقت نظر دي زمـــا پــر لـــوري وخـــوروه
تپــانـد زُهـــاد دي یـــمــه زړه لـــه بیلـــتانه مرور

# بیوزلي او د اسلام له نظره یې حل لارې

**شاه محمود درویش**

اســلام یو الهي بشــپړ نظـام دی، چې د بشــر د ژوند ټول اړخونه یې په پام کې نیولي او د ســتونزو د حل لارې لپاره، قوانین او نورمونه له ځان سره لري او همدارنگه د اقتصادي کارونو ســمون ته، چې دبشـــر په ژوند کې له مهمو څیزونو څخه گڼل کیږي، زیاته پاملرنه کړې ده، اســلام، د بیوزلۍ د مخنیوي لپاره چې بشـــري ټولنه گواښي، ډیرې ارزښتمنې لارښوونې وړاندې کړي دي، بیوزلۍ په ټولنه کې د خوراکي توکو د نه امنیت او خوارځواکۍ یو له بســتیزو لاملونو څخه دی. افغانســـتان هــم د نړۍ د بیوزلو او غریبــو هیوادونو له



ډلــې څخه دی، چې د بیوزلۍ، لــوږې، د خوراکي توکو له ناامنۍ او خوارځواکۍ سره لاس او گریوان دی. په قرانکریم او نبوي حدیثونو کې د بشـــري ټولنې د دې بدې او شــومې ناروغۍ (بیوزلۍ) د مخنیوي او درملنې د شــفا لپاره نسخې شــته، چې ددې ناروغۍ د درملنې لپـــاره یې پلې کول اړین دي.

بیوزلي تعریف: ډیر خلک فکر کوي، چې د بیوزلۍ تعریف ډیره ســـاده او اســـانه ده؛ تعریف ته اړتیا نه لري، ځکه دا یو ښکاره اقتصادي حالت دی، چې هر څوک هغه پیژني. مگر د بیوزلۍ په تعریف کې بیلوالی شتون لري:

بیوزلي په لغت کې: له انســـان سره د مال نشتوالی او یا هم د هغه څه کموالی چـــې د ژوند د دوام لپاره ورته اړتیا لري، فرق نه کوي، چې دغه مال یا توکی ورســـره هیڅ شتون ونه لري، یا لږ وی او یا هم ورته بســـنه نـــه کوي. د بیوزلی ضد بډایتوب(شـــتمنتوب) دی. ځینـــو ویلــي دي: چې بیوزلۍ یوازې د مال نشـــتوالي ته ویل کیـــږي، ځیني بیا وایي، چې د مال لږوالي ته وایي. د لســـان العـــرب د کتاب لیکوال هم داسې راوړي دي، چې : د بیوزلی دلفظ اطلاق یوازې اړتیا لرل دي، چې په مقابل کې یې مطلق بډایتوب یا شـــتمنتوب قرار لري؛ البتــه د لومړۍ معنا په پرتله، وروســـتۍ معنا یې عامــه ده. ځکه مطلقه اړتیا، مال او غیـــر مال اړتیاوو دواړو ته، شـــامليږي او د خلکو اړتیـــاوې منحصرې نه دي؛ ځکه هر څوک یو شـــي ته اړتیا لري. د (المصباح) لیکوال وایي: د یو چا ستونزې او کړاوونه هغه فقیر(بیوزله) کوي. پوهانود بیوزلـــۍ په تعریف کې، چې د زکات ترلاســـه کولو ســـبب کیـــږي او د غذا(بډایتوب) په تعریف کې، چې ورته د زکاتو اخیســـتل نه ده روا، د نظر اختلاف لـــري او هغه څه، چې ډیـــرې پوهان یې په اړه د نظر یووالی لري دا دي: څوک چې د کور او خدمتگار وس ونه لـــري او له هغه پرته کومه چاره هـــم ونه لري، روا ده، چې د زکات مال ترلاســـه کړي. امام مالک رحمت الله علیه وایي: که چیرته یې شـــتمني له کور او خدمتـــگار څخه زیات نـــه وي ، د هغه لپاره روا ده، چې زکات واخلـــي، خو له دې پرته روا نـــه ده. په دې برخه کې د ابن منـــذر، نخعي او ثوري هم په همـــدې نظر دي. امام ابـــو حنیفه رحمة اللـــه علیه ویلې دي، چې د شـــریعت له مخې بیوزلۍ عبـــارت دی له: د نصاب د مال نشـــتوالی او غذا(بډایتوب) د نصاب د مال شـــتوالي ته وایي. امام مالک او شـــافعي رحمة الله علیهما او ځینو نـــورو علماوو ویلې دي: د بیوزلـــۍ اصطلاحي تعریف دا دی، چې یو انســـان د مال مالک وي، خو ورته بســـنه نه کـــوي او د غذا(بډایتوب ) تعریف دا دی، چې انســـان د مال مالک وي او بســـنه یې کوي. ددغه نظر خاوندانو په دې اړه، چې څومره مال بســـنه او کفایـــت کوي، د نظر اختلاف لري. اما شـــافعي او ځینو نـــورو علماوو ویلـــي دي: چې هغه له هغه تر ټولو لږ شـــي څخه عبارت دی، کفایت ورتــه ویل کیږي(کفایت کوي). امـــام مالک وایي، چې پـــه دې اړه کومه انـــدازه نه ده ټاکل شـــوې، بلکې هغه په اجتهاد پـــورې اړه لري. احمد، ثوری او ابـــن مبارک رحمهم الله وایي، چې: د بیوزلی اصطلاحي تعریف دا دی، چې انســـان پنځـــوس درهمه او یا هم د هغه په اندازه سره زر ونه لري او د غذا(بډایتوب) تعریف دا دی، چې یو انســـان پنځوس درهمه او یا هـــم د هغه د اندازې په قیمت سره زره ولري. حســـن بصری رحمة الله ویلې دي، چې د بیوزلی تعریف دا دی، چې انســـان څلویښت درهمه او یا د هغه قیمت ولري. د بیوزلۍ د کلمې روښـــانول یو څه ســـتونزمن دی او هغه په دې دلیل، چـــې معنا یې د ژوندانه په ځای، د هیـــواد کلتور، خلکو او نورو لاملونو پورې تړلې ده. د بیلگې په ډول: هغه کســـان چې دلویو ښـــارونو لکه: استانبول، دوبۍ او نورو په شاخوا سیمو کې کوچینو کورونو کې ژونـــد کوي، کیدای شـــي، د خپلو گاونډیانـــو په پرتله بیوزله وي؛ مگر د هغو بې بیوزله خلکو په پرتله، چې د مخ پر وده هیوادونو لکه افغانســـتان په غریب میشـــتو سیمو کې ژوند کـــوي، مالي حالت دومره ډیر نه وي خراب. د اقتصاد علم لـــه پلوه او د نړیوال بانک د تعریف له مخې، بیوزلي په مطلق ډول، په ورځ کې تر یو ډالر او ۹۰ سنټو کم عاید لرلو ته ویل کیږي.

### د بیوزلو ډولونه: بیوزله په دوه ډوله ده:

اول ـ دیو شـــخص، د عاید کموالي تـــه ویل کیږي، چې د ژوندانه اړینې اړتیاوې یې پرې نه پوره کیږي.

دویم - هغه شـــخصي عاید، چې لومړنیو اړتیاوو ته یې بسنه کوي، خـــو بې ځایو تصرفاتو ته یې لکه: اســـراف او تبذیر، بســـنه نه کوي. بیوزلی یا مطلقه وي او یا هم نســـبي، چې د بیوزلۍ د ډولونو په نامه یادیږي، چې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

مطلقـــه بیوزلی:هغه ده، چې انســـان د خپل ژوند د اړیتاوړ توکو د پوره کولو توان نه لري، په ډیره ټیټه ټولنیزه او روغتیایي کچه کې قرار لري.

نسبي بیوزلۍ: هغه ده، چې د ژوند د اړتیا وړ لومړني توکي او اړتیاوې پوره کولای شـــي، خو د ژوونـــد کچه یې د نورو دژوند د کچـــې په پرتله ټیټه وي. پخوا بـــه بیوزلۍ، د تنبلي او سســـتوالي زیږنده بلـــل کیده، خو اوس مهـــال دغه نظر بدلون موندلي دی او بیوزلۍ یو ټولنیزه ســـتونزه بلل کیږي. په همدې خاطر اوس حکومتونه لاس په کار شوي دي او د بیوزلۍ د کمولو لپاره له بیلابیلو وســـیلو څخه کار اخلي او کوښښ کوي، چې د خلکو د ژوندانه کچه لوړه شي. دا کار نه یوازې د دولتونو دنده ده، بلکې هر ســـازمان، بنسټ او یا هـــم هغه څوک، چې وس او توان لري، چې له بیوزلو ســـره په مرسته کولو ســـره خپل مسؤولیت ادا کړي. له هغه ځایه، چې خوراکي توکو ته لاسرســـي، د بشـــر له بنسټیزو حقونو څخـــه دي، نو ددغه حق د پوره کیـــدو په برخه کې موږ ټول مسؤولیت لرو.

د بیوزلۍ اســـباب: د بیوزلۍ د اســـبابو په اړه د اقتصادي او ټولنیزو چارو پوهانو د پرله پســـې څیړنو د ترســـره کولو سره ســـره بیا هم نهایي پایلو ته نه دي رســـیدلي؛ یوازې ظاهري اړخ تـــه یې پاملرنـــه کړې ده. خو که پـــه دې برخه کې ځیر شو، نو وینو چې یو شمیر خلک په کارونو کې د تنبلۍ او یو شمیر نورو کړنو لکه: اسراف او بې ځایو لگښتونو له امله، له بیوزلۍ سره لاس او گریوان شوي دي. ځینو نورو بیا په ټولنه کې د دې په خاطر له بیوزلۍ سره مخ شوي دي، چې مالونه یې د نورو زورواکو له لوري غصب شـــوی او یا دجگړې او نا امنۍ له امله بیوزلۍ رامنځته شـــوې وي او یا هم په هغې ټولنه کې، چې هلته یو فاسد قانون چلیږي او د بیوزله خلکو مـــال او حق تر پښـــو لاندې کیږي.یا هم ځینـــي نور د هغه څه له امله له بیوزلۍ ســـره مخ شـــوي، چې هغه د انسان په واک کې نه وي، لکه: توپانونه، وچکالۍ، ناروغۍ او داسې نور. یاد شـــوې لاملونه ډیری انســـانان د بیوزلۍ خولې ته ورکوي، او یا هم دا چې یو ماشـــوم په یوه بیوزله کورنۍ کې نړۍ ته راشي، په بیوزلۍ او بې حاصله ځمکه کې لوی شي، د درس اوزده کړې اسانتیاوې ورته نه وي موجودې، دا ټول لاملونه د بیوزلۍ رامنځته کیدو ته لاره هواروي.

دې ته په کتو ســـره کولی شـــو، چې د بیوزلۍ لاملونه په دوه ډوله وویشو:

اول – د بیوزلۍ ذاتي لاملونه

دوم - د بیوزلۍ بهرني لاملونه

لومـــړی - ذاتي لاملونه: هغه دي چې خپله د یو شـــخص په امکاناتو، وړیتـــا او تصرفاتو پورې اړه لري. د یادونې وړ ده، چې د پورته یاد شوو لاملونو ارزښت، له بهرنیو لاملونو سره برابر نه دی، ځکه چې بهرني لاملونه تر دې ځواکمن دي.

دویم - بهرني لاملونه: دا په ټولنه او په کې کاري شـــرایطو او د شـــخص ماحول او خارجي حالتونو پورې اړوندیږي. په بیوزلۍ کې یې شخصي امکانات مهم رول لري؛ که څه هم کیدای شـــې دا یوازینی لامل نه وي، یا په بله وینا، شخصې کړنه ددې لامل ونه گرځي، بلکې دا د نورو د اعمالو زیږنده وي، چې له ده ســـره یو ځای ژوند کوي، او لامل یې د هغې ټولنې د قانون او سیستم ناسموالی وي، چې دی په کې ژوند کوي.

د بیوزلۍ بهرني یا خارجي لاملونه په خپل وار ســـره په دوه ډوله ویشل شوي دي:

۱ – ټولنیز لاملونه: چې په یوه شـــخص پورې نه اړوندیږي، بلکې په هغو کسانو پورې اړه لري، چې له هغوی سره ژوند کوي یا په ټولنه کې د ناسم قانون او غلط سیستم د پلې کولو له امله وي.

۲ ـ طبیعـــی لاملونه: هغه دي، چې د بشـــر پـــه اراده پوری اړه نـــه لري، بلکې، د الله تعالی جـــل جلاله له لورې وي، لکه: مرگ ناروغۍ، زلزله، اوســـیلابونه، ډیره واوره اوریدل، ستونزمنې لارې او داسې نور؛ دا ټول هغه پیښې دي، چې د بشـــر په بیوزلۍ کې رول لري. کیدای شي دا ډیره ستونزمنه وي، چـــې دبیوزلۍ لاملونه په علمي ډول وویشـــو، ځکه دا لاملونه یو له بل ســـره نیغه اړیکه لري. څرنگه چې مخکې وویل شـــول، چې بیوزلۍ یوه ټولنیزه پدیده ده، چې تر ډیره د زورواکۍ، د ناســـمو قوانینو، خراب اقتصاد او ناوړه ټولنیز ســـیتم له امله منځته راځي او له طبیعي قوانینو ســـره توپیر لري او هغه دا چې په طبیعې قوانینو کې د یو ډول پیپچلتوب شتوالی تر سترگو کیږي او اقتصادي قوانین د هغه تابع دي.

د بیوزلـــۍ له منځه وړل: د اســـلام مالي نظام د فرد او ټولنې لپـــاره په نړۍ کـــې د غـــوره نظامونو له ډلې څخـــه پیژندل شـــوی دی، چې په هغه کې په ډیر ښـــه ډول د فرد او ټولنې رعایت شـــوی او د بیوزلۍ د ناروغۍ ښـــه درملنه لري، په دې شرط چې لارښـــوونې، امرونه او نواهي یې پلې شي. د زکات ورکړه، عشر، خمس، خیراتونه، قراني نذرونه، کفاره، فدیه، وقف، وصیت قرض حســـنه، دیت، عاریت، میراث، د یوه کار په کولو کـــې هڅونه، د نزدې خپلوانو او گاونډیانو حقونه ورکول، مرسته، مینه، وروروليۍ، عدالت، نظم، ښځو حقووق، د ســـپین ږیرو، ناروغانو، غمځپلو ســـره مرسته او داســـې نورې چارې دي، چې د اسلام دین په تکرار سره په ترســـره کولو یې ټینگار کړي دي؛ دا ټول هغه څه دي چې د بیوزلـــۍ په مخنیوي کې ځانگـــړی رول لري. له بل اړخه د اســـلام مقدس دین د ټولنیزو ناروغیو له جملې لکه: قمار، احتکار، سود، بډې(رشـــوت)، خیانت، غدر، اسراف، کار نه کول، ناپوهی، بیکاری، تنبلی او د بیوزلۍ نور په سلگونو وســـایل رد کړي دي، چـــې بالاخره ټول مســـلمانان یې په هـــر ځای او هر وخت کې په ځانگـــړې ډول د غم او ډیرې پریشـــانۍ په وخت کې صبر،زغـــم، زړورتیا، ننگ، د عزت او داســـې نور لوړو صفتونو ته رابللي دي، چې په دې سره د کمزورو او بیوزلو روحیه پیاوړې کیږي، ترڅوله ستونزو سره مبارزه وکړي او په قوي او سمې ارادې سره هغه له روا لارې په ښه ډول حل کړي او په دې پوه شي، چې له هرې سختۍ وروســـته اســـانتیا راتلونکې ده. د اســـلام پاک دین په ډیرو مبارکو ایاتونو او احادیثو کې په کسب او کار، چې د بیوزلۍ په مخنیوي کې خورا مهم دي، ټینگار شـــوی دی. په بیوزله کورنیو او ټولنو کې د کار او کســـب په برخه کې د زده کړې ترلاســـه کول هم له بیوزلۍ څخه د خلاصـــون اصلي لاره ده.

# د سيرت لوستنه؛ د بريالي ژوندانه غوره لاربنود!

**محمد آصف آزاد**

حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم؛ هغـه چـې د بشـریت تـر ټولـو غـوره لاربنـود، تـر ټولـو کامـل شـخصیت او د پیـروۍ تـر ټولـو غـوره او سـپېڅلې نمونـه ده. اللـه جـل جلالـه هـم رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم خـورا غـوره نمونـه یـاد کـړی. د سـورت الاحـزاب پـه ۲۱م ایـت کـې فرمایـي: ژبـاړه: «پـه یقینـي توګـه، ستاسـې لپـاره د اللـه پـه پیغمبـر کـې د نېکـۍ یـوه خـورا غـوره نمونـه ده، د هـر هغـه چـا لپـاره ده چـې د اللـه او د اخـرت د ورځـې هیلـه مـن وي او اللـه ډېـر ډېـر یـاد کـړي.»

ښـه، سـره لـه دې چـې پـه ذکـر شـوي حقیقـت بانـدې بشـپړ بـاور او ایمـان لـرو؛ خـو ولـې مـو د ژوندانـه ډېـر کـړه وړه لـه هغـه صلـی اللـه علیـه وسـلم سـره پـه فاصلـه کـې دي؟!

ولـې مـو د ژونـد پـه ډېـرو برخـو کـې پـردي نامسـلمان او ګمـراه وګـړي خپـل پـه اصطـلاح ایډیـالان ټاکلـي؟! هغـوی چـې خپلـه لار ورکـې او ګمراهـان دي؛ نـورو تـه بـه کلـه د نېغـې لارې لاربنـوونکي شـي. خـو دا ولـې؟!

د دې یـو او مهـم علـت دا دی چـې مـوږ خپـل پیغمبـر صلـی اللـه علیـه وسـلم سـم نـه دی لوسـتلی. او کـه لوسـتلی مو هـم دی، خـو دقیـق او عمیـق مـو نـه دی لوسـتلی.

لـه یـوې خـوا د حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم ژونـد تـر قیامتـه د بشـریت لپـاره تـر ټولـو غـوره نمونـه ده او لـه بلـې خـوا الحمدللـه د هغـه مبـارک سـیرت، هغـه سـیرت دی چـې د هغـه صلـی اللـه علیـه وسـلم د صـورت او سـیرت او د ژوندانـه د هـر اړخ کاملـه، سـوچه او ربښـتیني معلومـات پکـې شـته او د خپـل ژوندانـه د هـرې برخـې او مسـایلو لپـاره پکـې حـل او لاربنـود موندلـی شـو. د ژونـد هیـڅ اړخ یـې پـه تیـاره کـې نـه دی پاتـې.

هسـې خـو ژونـد د مختلفـو لـوړو ژورو او پېچومـو سـره مـل دی؛ اړتیـا ده چـې پـه دې لـه ازمـون ډک سـفر کـې ماهـر لاربنـود ولـرو. د دې لپـاره چـې پـه دې سـفر کـې لار ورکـې نشـو، ونـه ښـوییږو او ونـه غورځېـږو؛ نـو د حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم پیـروۍ تـه اړتیـا ده. او دا پیـروي هلـه کېدلـی شـي؛ چـې ویـې پېژنـو، ویـې لولـو او ورسـره اشـنا شـو. لکـه وړانـدې مـو چـې وویـل، هسـې خـو هـم ژونـد یـو ازمایښـت دی؛ خـو پـه اوسـنۍ زمانـه کـې د مسـلمان لپـاره بیـا لا ډېـر دامونـه غوړېدلـي او دښـمن پـه دې هڅـه کـې دی چـې د سـفر دا مـزل لـه خنـډ او ځنـډ او خـدای مکـړه لـه ناکامـۍ سـره مـخ کـړي. مثـلاً، پـه اوسـنۍ زمانـه کـې ګڼـې فلسـفې او نظریـې د مسـلمانانو د لارورکـۍ او ښـویېدو لپـاره وړانـدې شـوي. ډېـر زلمـي وینـو چـې څـوک یـوې باطلـې نظریـې لـه حـق لارې ښـویولي او څـوک بلـې. دردونکـې خـو لا دا ده چـې دې بېچـاره ګانـو د دغـو نظریـو ګمراهـي او باطلوالـی نـه دی درک کـړی. خـو زمـا بـاور دی چـې کـه دوی نبـوي سـیرت پـه سـمه، دقیقـه او هـر اړخیـزه ښـه لوسـتلی وی؛ بیـا بـه یـې د دغـو باطلـو نظریـو باطلوالـی حتمـاً درک کـړی وی او پـه لـوی لاس بـه یـې پـه دغـو ناسـمو لارو ګام نـه وی اخیسـتی.

کـه یـې لوسـتلي وی چـې، حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم چـې د مکـې مشـرکینو د مکـې پرېښـودو تـه اړ کـړ او دی پـه اوښـلنو سـترګو لـه مکـې روان او د هجـرت لار یـې ونیـوه؛ نـو بیـا بـه یـې وطنیـت تـه پـه دیـن لوړتـوب نـه و ورکـړی او د وطـن مینـه بـه یـې هـم د دیـن پـه دایـره کـې راوسـتلې وی.

کـه یـې لوسـتلي وی چـې، حضـرت محمـد مصطفـی صلـی اللـه علیـه وسـلم فرمایلـي: «هېـڅ عـرب پـه عجـم او عجـم پـه عـرب، سـور پـه تـور او تـور پـه سـور بانـدې فضیلـت نـه لـري؛ مګـر فضیلـت او غـوره والـی پـه تقـوا کـې دی.» نـو بیـا بـه یـې د نشنلېسـتۍ نظریـې لاره نـه نیولـه.

کـه یـې د حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم سـیرت لوسـتلی وی؛ نـو پـوه شـوی بـه وی چـې هغـه صلـی اللـه علیـه وسـلم هـم سیاسـت پـر مـخ وړ او هـم د جومـات امامـت، هـم یـې اقتصـاد تنظیمـاوه او هـم یـې د جګـړې قومندانـي کولـه، هـم یـې سـفیران لېـږل او منـل او هـم یـې د سـولې معاهـدې او تړونونـه لاسـلیک کـول. نـو بیـا بـه یـې د سیکولرسـتۍ بېدینـه نظریـه نـه خپلولـه او د دیـن او سیاسـت د جلاوالـي پوچـې نظریـې بـه یـې لار نـه خطـاء کولـه.

دا یـو څـو بېلګـې یـوازې د یـوې نمونـې پـه توګـه یـادې شـوې. پـه همـدې توګـه کولـی شـو چـې د حضـرت محمـد صلـی اللـه علیـه وسـلم د مبـارک سـیرت پـه لوسـتلو سـره د خپـل بـا ارزښـته ژونـد دا روان مـزل پـه یـوې نېغـې نېکمرغـه لارې برابـر کـړو؛ ترڅـو مـو ژونـد بریالـی او نېکمرغـه وي. او لـه نـورو ناسـمو، پردیـو او ناکامـۍ تـه لـه تلونکـو لارو بـه مـو ځـان ژغورلـی وي. صلـی اللـه علیـه وسـلم

# افغاني سره مياشت په کومو برخو کې مرستې...

**حسن خان اتل**

برخـه کـې کـوي او دې تـه ورتـه نـورو پوښـتنو د ځـواب لپـاره زمونـږ خبریـال حسـن خـان اتـل د سـرې میاشـتې لـه ویانـد ښـاغلي عرفـان اللـه شـرفزوی سـره مرکـه کـړې.

سـوال: دغـه مرسـتې چـې تاسـو یـې پـه خلکـو وېشـئ، لـه کومـو سـرچینو څخـه یـې ترلاسـه کـوئ؟

ځـواب: د افغانـي سـرې میاشـتې مرسـتې ډېـری لـه بهرنیـو هېوادونـو څخـه راجلبیـږي، چـې پـه دې کـې اکثـر اسـلامي هېوادونـه دي لکـه: ترکیـه، پاکسـتان، سـعودي عربسـتان، ایـران او یـوه برخـه یـې نړیـوال فدراسـیون لـه لـوري او د سـرې میاشـتې لـه نړیوالـې ټولنـې څخـه هـم ترلاسـه کیـږي. د ځینـو نـورو هېوادونـو خیریـه او ملـي ټولنـې هـم لـه مونـږ سـره مرسـتې کـوي لکـه: چیـن، جاپـان، قطـر او کوېـټ.

سـوال: پـه کومـو برخـو کـې او لـه کومـو خلکـو سـره تاسـو مرسـتې کـوئ، بایـد څـه ډول شـرایط ولـري؟

ځـواب: افغانـي سـره میاشـت پـه مختلفـو برخـو کـې لـه خلکـو سـره مرسـتې کـوي، لکـه: طبیعـي او غیرطبیعـي پېښـو لـه املـه زیانمـن شـویو سـره مرسـتې کـوي. طبیعـي پېښـې لکـه: زلزلـه ځپلـي، سـېلاب ځپلـي، د واورو لـه املـه زیانمـن شـوي. غیرطبیعـي پېښـې لکـه: پـه جګـړو کـې ټپیـان شـوي یـا د جګـړو لـه املـه یـې مالـي او ځانـي زیانونـه ور اوښـتي وي. همدارنګـه پـه جګـړو کـې د وژل شـویو کسـانو خپلـو مرکزونـو یـا کورونـو تـه رسـول. د روغتیـا پـه برخـه کـې پـه پراخـه کچـه فعالیتونـه ترسـره کـوي، چـې زمونـږ نـږدې نیمـه بودیجـه پـه دې برخـه کـې کارول کیـږي. او بلـه برخـه یـې لـه کمـزورو کورنیـو سـره نغـدي مرسـته او همداشـان دوی تـه حرفـوي زده کـړې ورکـول کیـږي. او د تعلیـم پـه برخـه کـې، چـې پـه ټـول هېـواد کـې ۳۶ روزنیـز مرکزونـه لـري، چـې پـه ولایاتـو کـې یـو یـو او پـه کابـل کـې دوه مرکزونـه لـري، پـه پراخـه کچـه مرسـتې کـوي.

داسـې کـوم خـاص شـرایط، چـې یـو څـوک یـې بایـد ولـري، لـه ټولـو بېوزلـو سـره مونـږ پـه مختلفـو برخـو کـې یوشـان مرسـته کـوو.

سـوال: د روان کال د پیـل راهیسـې تاسـو څومـره خلکـو سـره او پـه کومـو برخـو کـې مرسـتې کـړې دي، دغـه کـوم ډول مرسـتې وې، ایـا یوازې خوراکـي مـواد ول؟

ځـواب: پـه تیـر یـوه کال کـې افغانـي سـرې میاشـتې پـه مختلفـو برخـو کـې مرسـتې کـړې دي، د توکـو پـه برخـه کـې لـه دوه میلونـو وګـړو سـره، همـدا رنګـه د روغتیـا پـه برخـه کـې نـږدې پنځـه میلونـو وګـړو سـره مرسـته کـړې ده، چـې پـه دې کـې دوی روغتیایـي مرسـتې او د روغتیـا پـه برخـه کـې عامـه پوهـاوی هـم شـامل دی.

سـوال: د پکتیـکا ولایـت پـه ګیـان او برمـل ولسـوالیو او د خوسـت پـه سـپېرې ولسـوالۍ کـې، لـه زلزلـه ځپلـو سـره ستاسـو مرسـته یوازې د کورونـو د ترمیـم پـه برخـه کـې وه، کـه پـه نـورو برخـو کـې مـو هـم لـه هغـوی سـره مرسـته کـړې ده، کـه کـړي مـو ده څـه ډول مرسـته وه.

ځـواب: د پکتیـکا پـه ګیـان او برمـل او د خوسـت پـه سـپېرې ولسـوالۍ کـې افغانـي سـرې میاشـتې نـه یـوازې د کورونـو د ترمیـم پـه برخـه کـې مرسـتې کـړې دي بلکـې د کورونـو د ترمیـم ترڅنـګ د توکـو پـه برخـه کـې او همدارنګـه پـه میلیونونـو افغانـۍ نغـدي مرسـته یـې هـم کـړې ده.

سـوال: افغانـي سـره میاشـت د روغتیـا پـه برخـه کـې څـه ډول مرسـته کـوي، آیـا یـوازې د واکسـین او تـداوۍ پـه برخـه کـې مرسـته کـوئ، کـه نـورې برخـې هـم شـته؟

ځـواب: افغانـي سـره میاشـت د روغتیـا بېلابېلـې برخـې لـري، چـې لـه دې جملـې څخـه یـې یـوه د عمـده امراضـو برخـه ده. چـې افغانـي سـره میاشـت پـه دې برخـه کـې پـه ټـول هېـواد کـې لـه ۱۷۰ څخـه زیـات روغتیایـي مرکزونـه لـري، پـه دې کـې ګرځنـده او ثابـت روغتونونـه هـم شـامل دي چـې عامـه روغتیایـي خدمـات وړانـدې کـوي. دوهمـه برخـه یـې د واکسـین ده. دریمـه برخـه یـې د سـوري زړه پـه ناروغـۍ اختـه ماشـومانو ده. کـه پـه دې برخـه کـې اړتیـا پېښـه شـي، نـورو هېوادونـو تـه هـم ماشـومان لیـږي. څلورمـه برخـه یـې د ماتـو هډوکـو او سـوځېدلي پوسـتکي پـه ناروغـۍ اختـه ماشـومان چـې افغانـي سـره میاشـت پـه کال کـې دوه ځـل یـاد ناروغـان د المـان هېـواد تـه د تـداوۍ لپـاره لیـږي. افغانـي سـره میاشـت د روغتیـا پـه برخـه کـې لـه چـا سـره نغـدي مرسـته نـه کـوي.

سـوال: د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي معاونیـت د سـوالګرو راټولولـو او لـه هغـوی سـره د مرسـتو لـړۍ پیـل کـړې ده، آیـا افغانـي سـره میاشـت پـه دې برخـه کـې څـه همـکاري لـري؟

ځـواب: بالـکل افغانـي سـره میاشـت د سـوالګرو راټولولـو او لـه هغـوی سـره د مرسـتو کولـو پـه پروسـه کـې داخـل ارکان دی. تاسـو تـه بهتـره معلومـه ده چـې د کابینـې پـه پرېکـړه کـې، کورنیـو چـارو وزارت، افغانـي سـره میاشـت او کار او ټولنیـزو چـارو وزارت لـه درې ګونـو اورګانونـو څخـه هیئـت تعیـن شـو، چـې د هغـوی د فیصلـې پـه اسـاس دا پروسـه مـخ تـه وړل کیـږي. پـه دې کـې د افغانـي سـرې میاشـتې مسـؤلیت دا دی، کومـې سـوالګرې کورنـۍ چـې راټولـې شـوې او د کورنیـو چـارو وزات لـه خـوا تثبیـت شـوې دي، نـو افغانـي سـره میاشـت د دوی د کورنـۍ لـه هـر غـړي سـره دوه زره افغانـۍ مرسـته کـوي، حتـی کـه یـوه کورنـۍ لـس دولـس غـړي هـم ولـري، هـر یـوه تـه یـې دوه زره افغانـۍ ورکـول کیـږي. تـر دې دمـه افغانـي سـرې میاشـتې لـه دریـو زرو څخـه زیاتـو وګـړو تـه دغـه مرسـته پیـل کـړې ده، چـې دا لـړۍ لا هـم روانـه ده، چـې د پلازمېنـې کابـل سـربېره پـه هـرات ولایـت کـې هـم دغـه لـړۍ پیـل شـوه. لـه سـوالګرو کورنیـو سـره د نغـدي مرسـتې ټولـه پروسـه د افغانـي سـرې میاشـتې پـه غـاړه ده.

سـوال: تـر اوسـه مـو څومـره سـوالګر تثبیـت کـړي؟ اینـده لپـاره مـو پـلان څـه دی؟ دا چـې اوس هـم پـه کابـل ښـار کـې ګـڼ شـمېر سـوالګر لیـدل کیـږي، آیـا دوی لـه دې پروسـې پاتـې دي؟

ځـواب: تراوسـه مـو لـه دریـو زرو څخـه زیـات سـوالګر تثبیـت کـړي دي، چـې دوی تـه هـره میاشـت دوه زره افغانـۍ نغـدي مرسـته ورکـول کیـږي. دغـه پروسـه ربښـتیا هـم چـې څنګـه بایـد شـوي وای، پـه هغـه ډول سـوالګر لـه ښـار څخـه نـه دي کـم شـوي، مونـږ دا منـو چـې پـه ځینـو ځایونـو کـې لا تراوسـه سـوالګر شـته. زمونـږ هڅـه دا ده چـې دغـه پروسـه همدغسـې پراخـه وسـاتو، ترڅـو پـه ښـار کـې د سـوالګرو شـتون لـه منځـه ولاړ شـي. کـه چېـرې یـو تـن، لـه افغانـي سـرې میاشـتې څخـه مرسـته اخلـي او هـم سـوال کـوي، نـو پـه دې صـورت کـې افغانـي سـره میاشـت لـه دغـو وګـړیـو سـره خپلـه مرسـته دروي. او د اینـده لپـاره پـلان لـرو چـې پـه دوهمـه مرحلـه کـې د دې مشـکلاتو تـه د پـای ټکـی کېـږدو.

سـوال: ستاسـو فعالیتونـه د زونونـو پـه کچـه دي او کـه د ولایاتـو؟

ځـواب: د افغانـي سـرې میاشـتې د مرسـتو بهیـر د هېـواد پـه کچـه پـه ټولـو ولایاتـو، ولسـوالیو او کلیـو کـې مرسـتې ویشـي. مونـږ پـه ټـول هېـواد کـې اووه زونونـه لـرو، چـې د دغـو زونونـو لانـدې اړونـد ولایتونـه دي. دغـه ولایتونـه د زونونـو لـه خـوا اداره کیـږي. همدارنګـه ټـول زونونـه لـه مرکـز کابـل څخـه اداره کیـږي.

سـوال: آیـا پـه وروسـتیو کـې خـو بـه ستاسـو پـه مرسـتو کـې څـه کمښـت نـه وي راغلـی؟

ځـواب: نـه، د افغانـي سـرې میاشـتې پـه مرسـتو کـې هیـڅ کمـی نـه دی راغلـی، بلکـې زیاتوالـی راغلـی. د تېـر کال پـه پرتلـه افغانـي سـرې میاشـت پـه ټـول هېـواد کـې دوه برابـره زیاتـه مرسـته وېشـلې ده. مونـږ هڅـه کـوو، چـې د مرسـتو د وېـش بهیـر لا زیـات او پـراخ کـړو.

# افغان اعلانات

## اطلاعیه مفقودی

ترجمـه انگلیسـی نـکاح خـط شـرعی دارای نمبـر ۱۸۹/۳۳۰ مـورخ ۱۴۰۱/۱/۲۸ بـه اسـم سـید مجتبـی فرزنـد سـید آقـا و محترمـه اصیـلا بنـت عبدالکریـم مفقـود گردیـده اعتبـار نـدارد.۳۴۹۹

***

## اطلاعیه تغیر اسم

د افغانسـتان بانـک قبـلا جـواز شـماره ۱۳۲ را بـه اسـم شـرکت خدمـات پولـی شـیر صـادر نمـوده بـود اکنـون سـهمدار شـرکت یـاد شـده میخواهـد کـه اسـم تجارتـی شـرکت را بـه نـام شـیر احمـد تغیـر دهـد.۳۵۰۰

***

## اطلاعیه تقرری

قـرار اسـت محتـرم نـور آغـا فرزنـد عبدالعزیـز دارنـده تذکـره نمبـر( ۱۴۰۰/۰۳۰۶/۶۸۱۳۰) مسـکونه فعلـی ناحیـه ۱۴ در مربوطـات شـاروالی کابـل بحیـث دریـور تقـرر حاصـل نمایـد اگـر بـه دوایـر و موسسـات مسـولیت داشـته باشـند الـی مـدت یـک هفتـه در ریاسـت مالـی و اداری شـاروالی کابـل مراجعـه نمـوده در غیـر آن حـق شـکایت را نخواهنـد داشـت.۳۴۹۸

***

## اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

محتـرم محمـد مهـدی فرزنـد عـوض علـی دارنـده جـواز شـماره ( ۲۹۳۸ ) مـورخ ۲۲/ ۶/ ۱۳۹۹ متصـدی رهنمـای معامـلات محمـد مهـدی شـیرزاد واقـع سـرک سـوم پـروژه تایمنـی ناحیـه ٤ شـاروالی کابـل خواهـان فسـخ جـواز خویـش گردیـده اسـت . بنـاء بعـد از نشـر اعـلان رهنمـای مذکـور فاقـد اعتبـار قانونـی بـوده هـرگاه ادارات دولتـی و اشـخاص انفـرادی بـالای موصـوف ادعـای حقوقـی بـه ارتبـاط فعالیـت جـواز مذکـور داشـته باشـند بعـد از نشـر اعـلان الـی یـک هفتـه بـه ریاسـت انسـجام ، بررسـی و ثبـت جمعیـت هـا و احـزاب – وزارت عدلیـه اطـلاع دهنـد.۳۴۹۶

***

## اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

محتـرم احمـد یوسـف فرزنـد احمـد خالـد دارنـده جـواز شـماره ( ۲۸۳۲ ) مـورخ ۹/۲۱ / ۱۳۹۸ متصـدی رهنمـای معامـلات عمرگلسـتان واقـع شـهرک گلسـتان ناحیـه ۹ شـاروالی کابـل خواهـان فسـخ جـواز خویـش گردیـده اسـت . بنـاء بعـد از نشـر اعـلان رهنمـای مذکـور فاقـد اعتبـار قانونـی بـوده هـرگاه ادارات دولتـی و اشـخاص انفـرادی بـالای موصـوف ادعـای حقوقـی بـه ارتبـاط فعالیـت جـواز مذکـور داشـته باشـند بعـد از نشـر اعـلان الـی یـک هفتـه بـه ریاسـت انسـجام ، بررسـی و ثبـت جمعیـت هـا و احـزاب – وزارت عدلیـه اطـلاع دهنـد.۳۵۰۲

***

## اطلاعیه انتقال مکان رهنمای معاملات

دفتـر رهنمـای معامـلات وکیـل آقـا گل حـق پرسـت دارنـده جـواز شـماره ۳۱۷۳ بـه اسـم آقـا گل فرزنـد ظریـف واقـع گـولای سـینما ناحیـه۱۱ موقعیـت دارد و میخواهـد بـه سـاحه حصـه اول خیـر خانـه ناحیـه ۱۱ شـاروالی کابـل نقـل مـکان نمایـد. بنـاء مراتـب بـه آگاهـی رسـانیده شـد. ۳۵۰۱

***

## اطلاعیه دعوت به داوطلبی

وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی دو قطعـه زمیـن بـه مسـاحت ۱٤ بسـوه زمیـن سـفید جایـداد ایـن وزارت را واقـع یکـه تـوت در مربوطـات ناحیـه نهـم شـهر کابـل بـه قـرار داد مـی سـپارد

وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی از تمـام داوطلبـان (اشـخاص و شـرکت هـا) واجـد شـرایط دعـوت مـی نمایـد تـا در پروسـه داوطلبـی بـه کرایـه گرفتـن جایـداد ایـن وزارت واقـع یکـه تـوت ، در مربوطـات ناحیـه نهـم شـهر کابـل ، دو قطعـه بـه مسـاحت حـدودا ۱٤ بسـوه زمیـن سـفید اشـتراک نماینـد بنـاء متقاضیـان محتـرم درخواسـتی هـای خویـش را مطابـق شـرطنامه ، طبـق قانـون بعـد از نشـر اعـلان الـی ۲۱ روز تقویمـی ارایـه نماینـد. شـرطنامه از آدرس ذیـل قابـل دریافـت مـی باشـد: پـل بـاغ عمومـی ، تعمیـر هجـده منزلـه وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی ، منـزل چهاردهـم ، مدیریـت عمومـی امـلاک .

تسـلیمی درخواسـتی از تاریـخ نشـر اعـلان روز ۲۱ مـدار اعتبـار مـی باشـد.

زمان جلسـه داوطلبـی :

یـک روز بعـد از ختـم تاریـخ اعـلان داوطلبـی در صـورت رخصتـی و یـا جمعـه اولیـن روز رسـمی بعـد از آن.

مـکان جلسـه داوطلبـی : وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی واقـع پـل بـاغ عمومـی.۳۵۰۳

# هرات کې د ۲۶ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو رسولو یوه شبکه جوړېږي

د هــرات د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاســت مســوولین وایي، چې د دغه ولایت په کهستان ولسوالی کې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۲۶ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو د یوې شبکې د رغولو چارې پیل شوې.
د هرات د کلیو، بیا رغونې او پراختیا رییس مولوي عبدالسلام هجرت د باختر آژانس له خبریال ســره په خبرو کې وویل، چې په ســیمه کې ۵۲۰ کورنۍ اوسېږي، چې یوازې ۴۵۶ یــې د ښــوونځي زده کوونکي دي، چې د څښــاک اوبو له کمښت سره مخ وو.
نوموړي زیاتوي، چــې په دغه پروژه کــې ۷۶۵ تنه ماهرو او ۱۸۸۰ تنــو غیــر ماهرو کارګرانــو تــه د کار زمینه برابره شوه.
مولوي هجرت زیاتــه کړه، چې په دې پــروژه کې له ۱۰۰ لمریزو تختو څخه کار اخیســتل کېږي، چې چارې به یې د ۶ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

## کشف یک مخفیگاه سلاح در پروان و ...

از ســوی مجاهدین فرقه شــهید آفتاب لوا دوم قول اردوی مرکزی در منطقه جنگل باغ مرکز پروان، کشف و مهمات آن ضبط شد. از این مخفیگاه هشت میل سلاح نوع زیکویک به دســت آمد. طبق یک خبر دیگر، سه تن در پیوند به نگهداری سلاح و مهمات در سه ولایت از سوی پولیس بازداشت شدند. دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله دیروز با نشر این خبر گفت که پولیس مبارزه با تروریزم ، سه تن را با دهها میل سلاح سبک و سنگین و مقدار زیادی مهمات از ولایات پکتیا، قندهار و ننگرهار بازداشت نموده اســت. از نزد افراد بازداشت شده دهها میل اسلحه مختلف النوع و مهمات نیز بدست پولیس افتاده است.

## د شریعت په نفاذ کې لومړیتوب پېژندنه مهم ...

دا چې د اســلامي امارت زیاترو مشرانو تېرو څه باندې څلورو لسیزو کې د پر مختګ او شاتګ، بري او بایلات خورا ډېر کندوونه وهلي او بلا تجربې یې ترلاسه کړې دي، لازمه ده چې دویم ځل زړې خطاوې تکرارنه کړي، پر جزیاتو د اصرار له کبله دښمنانو ته مناسبه موقع چمتو نه کړي او تر وروستي بریده هڅه وکړي چې افغان ځوربدلی ملت بیا هم خپلواکي او داسلامي نظام د ابنکلی فرصت ضایع نه کړي. خدای (ج) دې نه کړي که یو ځل بیا هم زموږ مشــران فروعي مسایلو کې ننبتي پاتې او دا زرینه موقع له لاســه ورکړي نو دا به نه یوازې افغانانو کې د دیني قیادت رول او نفوذ صفر ته ورســوي بلکې د ټول امت لپاره به تر پېړیو پورې د ډار، بې زړه توب او ناکامۍ یوه ښــکاره نمونه پاتې شي. چې بیا همدغه ناکامۍ پر مسلمانانو د لیبرالیزم او سیکولریزم تپلوته هم لاره اواروي. نو راځئ د یوه خپلواک، بســیا او مرفه اسلامي هېواد د استحکام او بقا لپاره فکر او پلان وسنجوو او خپل مهم لومړیتوبونهوپېژنو.

## کندهار کې د ۷۰ زره ډالرو په لګښت د یو سړک د جوړولو چارې ...

د کندهار ولایت د اطلاعات او فرهنګ ریاســت مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په ۱۵ ناحیه کې ۴۴۰ متره ســړک د ۶۹ زره ۵۸۱ امریکایي ډالرو په لګښت جوړېږي.
د یادونې وړ ده ،چې په دغه پروژه کې ســلګونو کسانو ته د کار کولو زمینه برابر شوې، چې چارې به یې د یوې میاشتې په موده کې بشپړې شي.

## بیش از ۲۲ هزار گدا از شهر کابل جمع آوری شده ...

یک‌هــزار و ٦٤٦ تن دیگر شــان گداهــای حرفه یی تثبیــت گردیدند. هم‌چنان، در میان گداهای یاد شــده، هشــت‌هزار و ۱٤۹ کودک نیز شامل است که سه هزار و ۲۰۲ تن آنان مستحق، چهار هزار و ۸۸۳ تن گداهای حرفه یی و ٦٤ تن دیگر شــان بی‌سرپرست شناسایی گردیدند که کودکان بی‌سرپرست پس از بایومتریک به مراکز آموزشــی وزارت کار و امور اجتماعی، فرستاده می‌شوند. در این مراکز، علاوه بر اعاشه، زمینۀ آموزش نیز برای کودکان بی‌سرپرست فراهم می‌شود.
این در حالی است که جمعیت هلال احمر افغانی چندی قبل، روند توزیع کمک‌های نقدی به گداهای مســتحق در شــهر کابل را، آغاز کرد که تا کنون صدها تن از این کمک‌ها مستفید شده‌اند.
دراین برنامه، برای هرعضو خانواده‌های گدا ۲۰۰۰ افغانی در هر ماه توزیع می‌شود.

## کابل کې له ۲۰۰ اړمنو کورنیو سره د سون توکو ...

راتلونکي کې له شاوخوا ۸۰۰ نورو اړمنو کورنیو سره هم مرسته وکړي. محمد عمر ځواک ټینګار وکړ، چې د مســتحقو او اړمنو کورنیو د تشخیص په برخه کې په پوره روڼتیا سره سروې تر سره کېږي او په دې برخه کې به چاته د واسطې جوړولو او پېژندګلوۍ پر بنســټ د مرستې اخیســتو اجازه ورنکړي. یاد بنسټ تر دې وړاندې په کابــل کې وزګارو ځوانانو ته د کاري زمینې د رامنځته کوولو په موخه د کېکو او کلچو یوه تولیدي کارخونه هم پرانیسته چې له کبله یې لسګونو کسانو ته یې د کار زمینه برابره کړې وه. په ورته وخت کې یو شمېر بې وزله کسانو، چې د سون توکو مرسته ترلاسه کړه له باختر آژانس سره په خبرو کې وویل، چې د اقتصادي ستونزو له کبله د کورونو د ګرمولو په برخه کې له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان وو او په دې ســره به یې دغه ســتونزه تر یوه بریده حل شي. د یادونې وړ ده، چې دغه بنسټ درې میاشتې وړاندې په ننګرهار ولایت کې هم له لسګونه اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته کړې وه.

## برگزاری نشستی به‌منظور مطالعه و تجزیه کیفی محصولات دوایی ...

دفتر مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور دیروز با نشر خبرنامۀ گفت که این نشست به اشتراک مولوی عبدالباقی منصور رییس امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی ادارۀ امور و نماینده‌های وزارت مالیه، تحصیلات عالی و ادارۀ ملی غذا و ادویه، در ادارۀ امور برگزار گردید.
در این نشست پوهنوال آقا محمد ژکفر رئیس پوهنځی فارمســی پوهنتون کابل در مورد مطالعه و تجزیه کیفی محصولات فارمسیوتیکی توریدی معلومات ارائه کرد.
در همین حال نماینــده گان ادارۀ ملی غــذا و ادویه و وزارت مالیه دیدگاه‌ها و نظریات شان را به خاطر بازنگری تفاهنمامه میان ادارۀ ملی غذا و ادویه و وزارت تحصیلات بیان نموده خواهان هماهنگی بیشــتر از سوی اداره امور شــدند. مولوی عبدالباقی منصور رئیس امور فرهنگی و اجتماعــی گفــت، ادارۀ ملی غذا و ادویــه و وزارت تحصیلات عالی روی بازنگــری تفاهمنامه همکاری؛ موضوع یاد شده کار نموده و آنرا با در نظر داشت حمایت از تورید کننده‌ها و عواید ملی ترتیب و جهت منظوری به اداره امور ارسال نمایند.

## د افغانستان واقعیتونو ته په کره او بې پرې توګه ...

یــو شــمېر رســنیو څخــه هــم لیدنــې ترســره کــړې دي.
د خبریالانــو د خونديتــوب کمېټې سرپرســت عبدالقدیم ســهاک په دغه غونډه کې د اطلاعاتــو او فرهنګ له وزارت څخه غوښتنه وکړه، چې په ځانګړي ډول د ولایتي خبریالانو لپاره د ښوونیزو کورسونو او ســیمینارونو په جوړولو کې له دغه کمېټې سره مرسته وکړي.
د یادونې وړ ده، چې د خبریالانو د خونديتوب د کمېټې دغه ناسته به دوه ورځې دوام ولري او ټاکل شوې ده، چې برخوال یې اطلاعاتو ته د لاسرســي او رســنیو د قانون په برخه کې خپلې ســتونزې او وړاندیزونه د اســلامي امارت له اړوندو مسوولینو سره شریک کړي.

## نگرانی مسؤولان صحی پروان از مسدود شدن شفاخانه ...

ســویدن تمویل و تجهیز می‌شــد تا آخر ماه دسامبر میلادی به دلیل نبود منابع تمویل کننده مســدود می گردد.
داکتــر عبدالحمید عالمی ژکفر مســوول شــفاخانۀ کوید۱۹ پروان به خبرنــگار آژانس اطلاعاتی باختر گفــت که شــفاخانۀ ولایتی کوید ۱۹ پــروان که با امکانات و وسایل روز و نیاز مریضان مجهز می‌باشد با ختم سال ۲۰۲۲ میلادی فعالیتهای این شفاخانه که روزانه در کنار معانیــات مبتلایان به ویروس کرونا، برای صد تا یک صد و بیســت تن مریض سرا و پا خدمات صحی عرضه می‌گردید، مسدود می گردد.
عالمی تاکید می‌کند که این شــفاخانه با تجهیزاتی که به میلیون‌ها دالر خریداری شده مجهز می باشد، باید از ســوی امارت اسلامی و مســؤولان صحی توجه صورت بگیرد تا به یک شفاخانۀ انتانی مبدل گردد و امکانات و داکتران آن حفظ گردد.
با این حال داکتر محمد فاروق ســهاک مسؤول دفتر ساحوی کمیتۀ سویدن در پروان می‌گوید که با قطعه شــدن کمک‌های بانک جهانی، کمیتۀ سویدن از ماه دســامبر ۲۰۲۱ تا اخیر همین ماه جاری میلادی این شفاخانه را از بودجه شــخصی اش تمویل و تجهیز می‌کرد، بناً به خاطر کاهش شــدت ویروس کرونا و نبــود بودجه، کمک‌های این دفتر در بخش کوید ۱۹ قطع گردید.
سهاک اشاره کرد که دفتر کمیتۀ سویدن تنها در بخش کوید ۱۹ و واکسین کرونا در ولایات پروان، پنجشیر و کاپیسا مبلغ ۱۷۳ میلیون افغانی را هزینه کرده است.

## آغاز پروژه‌های کار در مقابل غذا در ولسوالی‌های استالف ...

مالداری با نشر خبرنامه یی گفته است که برنامۀ کار در مقابل غذادر دو قریه کاریزک و مرغ گیران ولسوالی پغمان کابل آغاز گردیده است. با آغاز این پروژه، یک صد و پنجاه تن جهت پاک‌کاری کاریزها، جوی ها و ساختن چک‌دم‌ها توظیف شــدند. این پروژه، از سوی موسسه دی ای آی تمویل می گردد و برای مدت سه ماه ادامه خواهد یافت.
همچنان مسوولان ریاست زراعت کابل می گویند که پروژۀ کاردرمقابل غذا در ولســوالی استالف کابل، آغاز گردیده است. به گفتۀ مسوولان، پروژۀ کار در مقابل غذا که تطبیق کنندۀ آن موســـه (DAI) می‌باشد در ولسوالی استالف کابل آغاز شــده و قرار اســت، ده‌ها نفر به مدت سه ماه در بخش‌های پاک‌کاری کانال‌ها، ایجاد حوض‌های خاکی، پاک‌کاری کاریزها و ایجاد آبریزه‌ها جهت افزایش سطح آب‌های زیر زمینی و جلوگیری از سیلاب‌ها در ساحات مختلف این ولسوالی توظیف شدند.

## پروان کې د ۱.۵ میلیونو افغانیو په لګښت ...

د دغه پروژې د پرانیستلو مراسمو کې د پروان والي مولوي عبیدالله امین زاده وویل، چې موږ هڅه کوو د طبیعي پېښو د مخنیوي او د خلکو د تګ راتګ ســتونزو د هــوارۍ په موخه د غوربند درې مواصلاتي لارې په اساسي ډول ورغوو.
په همدې حال کې د پروان د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مبارزې رئیس مولوي عبدالعلیم احمد وویل، چې د دغه کانال د رغولو چارې د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ریاست په مالي مرسته نن پیل او په راتلونکو دوو میاشتو کې به بشپړې شي.
د طبیعي پېښــو پر وړاندې د مبارزې ریاست د پېښو د خطرونو مســوول انجنیر هارون وویل، چې له لومړۍ ســروې وروسته معلومه شــوه، چې د کانال د نشتون له امله په دغه ولسوالۍ کې ۲۰۰ کیلومتره سړک او ۷۰۰ کورونه له خطر سره مخ دي.

## د قرغې بند به په یوه غوره تفریحي او ...

د ۲ اعشــاریه ۵ میلیون لیتره اوبه ځایوونکې زیرمه جوړه شــوې ده. یاد ریاست په ډاګه کړې؛ اوسمهال د ۳۵۰۰ متره پر اوږدوالي د خړوب سیستم د نل تېرولو کار روان دی، چې د اوبو له دې زیرمې به د ۴۰ شیردانونو له لارې ۴۵۰۰۰۰ متر مربع ځمکه او ۵۵۰۰۰ ونې خړوبه شي. دغه راز ویل شوي؛ د اوبو دا زیرمه د قرغې بند په یوه لوړه غونډۍ جوړه شوې، چې پر واتر پمپ اوبه پورته ځي او وروسته به په معیاري توګه ورڅیر مه سیمې خړوبوي. د زرغونتیا ریاست د رییس د څرګندونو له مخې؛ دوی پلان لري، چې د نیالګیو کینولو په موسم کې لسګونه زره میوه لرونکې او زینتي ونې کینول شي او له دې زیرمې له لارې به خړوبیږي. کابل ښاروالۍ ډاډ ورکوي، چې د قرغې بند ســیمه به په یوه لوی دمه ځي یا تفریحي پارک او زرغونې سیمې واړوي او د همدې موخې لپاره په پام کې ده، چې څو نورې ځاګانې هم وکینډل شي.

## کابل کې زرګونو اړمنو کورنیو مرستې ...

رییس عبدالبصیر خلیلي آخندزاده چې په دې حوزه کې یې اړمنو ښاریانو ته د دغو توکو د وېش له بهیر څخه څارنه کوله وویل، چې د کابل ښاروالۍ د دغو مرستو د آسانتیا برابروونکې ده، چې باید په شفاف ډول سره ووېشل شي.
نوموړي زیاته کړه، هغه اړمنو کورنیو ته چې مخکې د ګذر وکیلانو او د سیمه ییزو شوراګانو له خوا مشخصې شوې وې، د اړونده بورد له سروې وروسته په مستحقینو خوراکي توکي ووېشل شول.
آخندزاده وویل، چې د اسلامي امارت له بریا وروسته په ۱۵ ولسوالیو کې شاوخوا ۳۷ زره اړمنې کورنۍ د د خوړو نړیوال سازمان د مرستو تر پوښښ لاندې راغلې دي.

## کندز کې څه د پاسه ۴۲ زره جریبه دولتي ...

ولسوالیو کې څه ناڅه ۱۷۰ زره غصب شوې دولتي ځمکې تثبیت کړې چې له منځه یې ۴۲ زره ۵۵۹ د غاصبینو له منګولو یې خلاصه کړې ده.
نوموړي زیاتوي، چې د یادو غصب شویو ځمکو په تور یو شمېر غاصبین نیول شوي، چې دوسیې به یې له څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

## ننګرهار کې د ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت ...

د پوهنې رئیس مفتي حضرت حقاني د دغه ښــوونځیو د پرانیستلو مراسمو کې وویل، چې دغه ښوونځي د تېرو شدیدو جګړو له امله سختې زیانمنې شوې وې، چې د سویډن موسسې له لوري د ۳۰ میلیونو افغانیو په لګښت بیا ورغول شوې.
نوموړي د ســویډن کمېټې څخه د مننې ترڅنګ د پوهنې برخه کې د لازیاتو همکاریو غوښتنه وکړه.

## (د ډیپلوماتیک تخصصي روزنیز پروګرام) تر نامه ...

نړیوالي اړیکي، د نړیوالو سازمانونو پېژندنه، د اسلامي امارت تاریخ، تګلاره او اهداف او فکري روزني په شمول دوولس مضامین تدریس کوي.

## د پولیو د مښتو پېښو په اړه خپاره شوي ...

د عامې روغتیا وزارت ویاند ټینګار کړی، چې د رسنیو همکاران دې د معلوماتو په خپرولو کې له دقت څخه کار واخلي او د ژورنالیژم اصولو ته دې ژمن پاتې شي.

## د ښوونځیو او پوهنتونونو لپاره له مناسبو ...

ســم وي. د کانونو او پټرولیم وزیر دا څرګندونې له هغه وروســته کوي چې اونۍ مخکې د سرپرســت حکومت د لوړو زده‌کړو وزارت اعلان وکړ چې په هېواد کې د نجونو لوړې زده‌کړې تر بل امر پورې وځنډول شوې.

## تثبیت هزاران جریب زمین غصب شده...

نیز خبر می‌دهد.
وزارت عدلیه گفته است که هیأت تخنیکی کمیسیون واپس گیری زمین های غصب شــده یک هزار جریب زمین را در مربوطات ولسوالی مومند دره آن ولایت غصب شده، تثبیت نمودند.

## د خاصې قطعې ځواکونو په چوکاټ کې ۴۳ تنه ...

دغه راز فارغو شویو سرتېرو ژمنه وکړه، چې په پوره اخلاص سره به هېوادوالو خدمت کوي او هېڅ ورانکارې ډلې ته به اجازه ورنه کړي څو د دغه ولایت امنیت ګډوډ کړي.
د دغې غونډې په پای کې فارغو شویو سرتېرو ته د فراغت سندونه او ستاینلیکونه ورکړل شول.

## غزني کې لومړنی تاریخي جومات ...

سره شریک شوې او په پام کې ده، چې دغه تاریخي جومات په راتلوونکي کال کې په اساسي توګه بیا ورغول شي.
نوموړي د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست کارکوونکو ته سپارښتنه وکړه، چې په سږني ژمي کې د دغه جومات د نړېدو د مخنیوي لپاره لومړنۍ کړنې ترسره کړي.

## بادغیس کې بزګرانو د کوکنارو پر ځای ...

ځمکه کې هنجې کرل شوې وه.
قاري احســان زیاتوي، چې هڅه کوي دې برخه کې له نړیوالو موسســو سره په ګډه بزګرانو ته اصلاح شوي تخمونه ورکړې ترڅنګ حاصلاتو ته یې مناسب بازار پیدا کړي.
نومــوړي زیاته کړه، چې هڅه کوې د هنجې کرکیله عامه کړي، ځکه چې دغه بوټی د کوکنارو ښه بدیل دی.

## د عینو مینې ۳۵۰ بستریز روغتون په بېلابېلو ...

سازمان «WHO» د خوارځواکو ماشومانو د درملنې په موخه د ۱۰ زره او ۳۳۰ ډالرو په ارزښت د ۳۰ ډوله طبي، غیر طبي تجهیزاتو او درملو مرسته کړې ده.
نوموړي زیاته کړه، چې دغه درمل او طبي تجهیزات به د خوارځواکو ماشومانو په درملنه کې ډېر ګټور وي.
په ورته وخت کې د یاد روغتون سره یو سوداګر هم د څلور ډوله طبي او غیر طبي توکو مرسته وکړه.

## بلخ کې سلګونو کورنیو ته د څښاک ...

او د آی.ام.سي موسسې له لوري د ۷۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت پلي کېږي، چې ۳۵۰ کورنۍ به د څښاک له اوبو څخه برخمنې شي.
د یادونې وړ ده، چې ســیمې اوسېدونکو له نورو موسســې څخه وغوښتل، چې د سړکونو د جوړولو او نورو روغتیایي پروژو په پلي کولو کې له دوی سره مرسته وکړي.

# Shariat
Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat :ويب سايت

**شريعت**
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رييس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤول مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شريعت بربښنا ليک:Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 29 December 2022 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 114


**د اطلاعات او فرهنګ د نشراتو مرستيال رسنيو ته**

## د افغانستان واقعيتونه په کره او بې پرې توګه منعکس کړئ



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نشراتي معين مهاجر فراهي پرون د خبريالانو د کمېټي دولايتي همغږۍ په ۶ مياشتنۍ غونډه کې ګډون وکړ.

نومـوړي په يـاده غونډه کـې وويل چې د خبريالانو ستونزو ته رسېدنه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت لـه لومړيتوبونو څخه دی.

فراهي همدارنګه له خبريالانو او رسنيو څخه وغوښتل، چې په بې پرې او کره توګه په افغانستان کې شته واقعيتونو ته انعکاس ورکړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وياند مفتي عبدالمتين قانع په دغه ناسته کې وويل، چې ياد وزارت به د خبريالانو د ستونزو د حل پـه موخه هڅې لا ګړندۍ کړي او په همدې موخه يې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او خبري بنسټونو د استازو ګډ پلاوی ټاکل شوی، چې تر دې دمه يې له ... ۷مخ

## کندهار کې د ۷۰ زره ډالرو په لګښت د يو سړک د جوړولو چارې پيل شوې



شـريعت: د کندهـار د ښـاروالۍ مسـوولين وايي، چې د دغه ولايت د ۱۵ ناحيې په يخ کاريز سيمه کې ۴۴۰ متره په اوږدوالي سـره د نږدې ۷۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت د يو سړک د جوړولو چارې پيل شوې. ۷مخ

## د ننګرهار له سکتوري عايداتي ادارو څخه نږدې ۲۴۷ ميليونه افغانۍ عوايد راټول شوي

د ننګرهار والي حاجي ملا محمد نعيم اخند د ولايت مستوفي مولوي محمد فاروق انصاري او د غير مالياتي عايداتي ادارو مسوولينو سره د عوايدو په شفاف ډول راټولولو په موخه ناسته وکړه.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ د يادې ناستې پر مهال د ولايت مستوفي مولوي محمد فاروق انصاري وويل، چې ۱۶ عايداتي ادارو ته د ورکړل شوي ټارګېټ له مخې له حمل مياشتې څخه د قوس ۳۰ مې نېټې پورې ۲۴۶ ميليونه ۵۹۳ زره او ۶۶۲ افغانۍ راټولې شوې دي.

په دغه ناسته کې د بېلابېلو ادارو مسـوولينو د خپلو عوايـدو په اړه معلومات وړاندې کړل.

دوی همـدا راز د لاسته راوړنو، ستونزو او د اسلامي امارت له لوري د نغدي جرايمو معاف کېدو او يو شمېر نورو سرچينو څخه د عوايدو نه اخيستل ټاکل شوي هدف ته په نه رسيدو کې عوامل ياد کړل او ژمنه يې وکړه چې د قانون له مخې به خپل عوايد لوړ کړي.

د ننګرهار والي حاجي ملا محمد نعيم اخند لـه ټولو مسـوولينو مننه وکړه، چې پـه قانوني ډول او شـفافيت سره عوايد راټولوي او سپارښتنه يې وکړه ترڅو ور سپارل شوي مسـووليتونه په امانتدارۍ او صداقت سره تر سره کړي.

## نګرانی مسوولان صحی پروان از مسدود شدن شفاخانه کويد ۱۹




مسـئولان صحی در پـروان، از مسدود شدن شفاخانه کويد ۱۹ آن ولايت ابراز نګرانی کردند.

اين مسؤولان صحی می ګويند که شفاخانهٔ ولايتی بيست بستر کويد ۱۹ که از سوی کميتهٔ ... ص۷

## غزني کې لومړنی تاريخي جومات رغول کيږي



شريعت: دغزني د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس ملا حميدالله نثار چې يو شمېر نورې مسـوولين يې هم ملتيا کوله د ملسـمانانو له لومړني جومات، چې پـه دغه ولايت کې د صحابه کرامو په وخت کې جوړ شوی ليدنه وکړه.

د غزنـي د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس مـلا حميدالله نثـار د دغه جومات د ليدنـې پرمهال وويـل، چې د دغه جومات لومړنۍ سـروې او ارزونې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ... ۷مخ

## کابل: د سروبي ولسوالۍ په شنې غونډۍ سيمه کې معياري بڼ جوړيږي

د کابـل د کرنـې، اوبولګولـو او مالدارۍ رياست وايي، چې د کابل سروبي ولسوالۍ اړوند شنې غونډۍ سـيمه کې د معياري بڼ جوړولو په پار هلې ځلې روانې دي، چې په ياده سـيمه کې د مېوو معياري بڼ جوړ کړي. د کابل د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست مسوولينو د باختر آژانس سره په خبرو کې وويل، چې د دې ولايت په سـروبي ولسوالۍ کې د کرنې اړوند د پراختيايي پروژو چارې په چټکۍ روانې دي.

اخوا د کابل د سـروبي ولسـوالۍ د کرنې مديريـت چارواکي وايي، چې د روپاني فاونډېشـن له خوا د دغه ولايت په بېلابېلو سـيمو کې د کرنې اړوند پراختيايي پروژې چارې ګړنـدۍ روانې دي، چې يوه يې هم په شـنه غونډۍ کـې د معياري بڼ جوړول دي.

## کشف و احتراق هفت هزار کيلوګرام مواد کيميايی مورد استفاده در مواد مخدر

شـريعت: نزديک به هفت هزار کيلو ګرام مـواد کيميايی که از آن در ساخت مواد مخدر استفاده می‌شد، درولسوالی دولينه غور، به دست پوليس افتاد.

يک منبع از قوماندانی امنيه غور ګفت که اين مواد، از مربوطات ولسوالی‌های مرغاب، شهرک و چهارسـده کشف و درساحه به آتش کشيده شد.

اين در حالی است که عمليات‌ها و تلاش‌هـای نيروهـای دلير امارت اسـلامی عليه کشت و قاچاق مواد مخدر ګسترش يافته است و در راسـتای جلوګيری از کشـت و قاچاق مواد مخدر دستآوردهای چشمګيری داشته اند.

## آغاز پروژه‌های کار در مقابل غذا در ولسوالی‌های استالف و پغمان



شريعت: پروژه‌های کار در مقابل در دو ولسـوالی‌های پغمـان و استالف شـهر کابل آغاز ګرديده است و قرار است برای ده‌ها تن در اين پروژه زمينهٔ شغلی فراهم ګردد.

ده‌ها تن شـامل برنامـهٔ کار در مقابل غـذا در دو قريه کاريزک و مرغ‌ګيران ولسـوالی پغمان کابل، شدند.

وزارت زراعت آبيار و ... ص۷

## بازداشت ۷ تن به اتهام فروش مواد مخدر

شريعت: هفت تن در پيوند به فروش مواد مخدر از ولايت‌های نيمروز، کاپيسا، بلخ و هرات از سوی پوليس بازداشت شدند.

دفتر مطبوعاتـی وزارت امور داخله ديروز با نشـر خبرنامهٔ ګفت کـه پوليس مبـارزه با مـواد مخدر ، هفـت تن را در پيوند به فروش مواد مخدر در ولايت‌های نيمروز، بلخ، کاپيسا ،هـرات و باميان، بازداشـت نمودند.

از اين ميان ۲تن از نيمروز، ۲تن از بلـخ،۲ تن از هـرات و يک تن ديګر از کاپيسـا در پيوند به فروش مواد مخدر بازداشـت ګرديده است.

در خبر نامه نيز آمده اسـت که پوليـس مبارزه با مـواد مخدر قوماندانی امنيـه باميان، ۱۸ تن از معتادين مواد مخدر را بعد از درمان در شفاخانه بيست بستر اين ولايت، دوبـاره به خانواده های شان تسليم کردند.



## بادغيس کې بزګرانو د کوکنارو پر ځای د هنجې کرکيلې ته مخه کړې ده

د بادغيـس د کرنـې، اوبولګولـو او مالدارۍ رياست مسوولين وايي، چې په دغه ولايت کې بزګرانو د کوکنارو پر ځای د هنجې کرکيلې ته مخه کړې ده.

د بادغيس يو شـمېر بزګرانو له باختر آژانس سره په خبرو کې وويل، چې دې وروستيو کې ډېرى بزګرانو د کوکنارو پر ځای د هنجې کرکيلې ته مخه کړې ده. دوی لـه دولت څخه غـواړي، چې دې برخه کې ورسـره لازمه همکاري وکړي، ترڅو حاصلات يې زيات او د هنجې کرکيله عامه شي.

د هغوی دغه راز د هنجې د پلور لپاره هم د مناسب بازار موندنه کې له دولت څخه د همکارۍ غوښتنه کوي.

په ورته وخت کې د بادغيس د کرنې، اوبو لګولو او مالـدارۍ رئيس قاري محمد محسن احسان وايي، چې تېر کال په دغه ولايت کې د کرنې رياست په هڅو پر ۱٤۰۰ هکتاره ... ۷مخ

## پروان کې د ۱.۵ ميليون افغانيو په لګښت د يو کانال د کيندلو چارې پيل شوې



د پروان د سرخ پارسا ولسوالۍ د تنګي لولنج سيمې د اوسېدونکو د غوښتنو پر بنسـټ د عامه سـړک د تخريب د مخنيوي، د اوبو نښـلولو او د خلکو ستونزو د هوارې په موخه د ۱.۵ ميليونو افغانيو په لګښت د يو کانال د کيندلو او اوبو نښلولو پروژې چارې پيل شوې.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ ۷مخ

## د عينو مېنې ۳۵۰ بستريز روغتون په بېلابېلو درملو او تجهيزاتو سمبال شو

شـريعت: د کندهار د عامې روغتيا رياست مسـوولين وايي، چې د دغه ولايت د عينو مېنې له ۳۵۰ بسـتريز روغتون سره د روغتيا نړيوال سازمان له لوري د بېلابېلو درملو او طبي تجهيزاتو مرسته‌وشوه.

د دغه روغتـون آمر قاري عبدالحميد عاصـم وويل، چـې دغـه درمل او تجهيزات د روغتيا نړيوال ... ۷مخ

## کابل کې ۳ تنه د جعل کارۍ او غلا په تور ونيول شول

د کابل د امنيې قومندانۍ مسـوولين وايي، چې د دغه ښار د دريمې امنيتي حوزې پوليسو يو کس د غلا او دوه تنه د جعل کارۍ په تور نيولي دي.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ نيول شوي کسانو کې ۲ کسانو خلکو ته د پوهنتون جعلي اسناد جوړول، چې امنيتي ځواکونو لـه لوري په بالفعل ډول نيولـي او دغه راز يو تن غل چې له خلکو به يې مبايلونه غلا کول هم د امنيتي منسوبينو له لوري نيول شوی دی.

د يادونـې وړ ده، چې د نيول شـوي کسانو دوسـيې به تر څېړنو وروسته عدلي او قضايي ارګانونو ته وسـپارل شي.

## کمک غذايی با هزاران خانوادهٔ نيازمند در تخار

شريعت: سـازمان غذايی جهان بـرای ده هـزار و ٤۳۰ خانوادهٔ نيازمند در شهر تالقان تخار از طريق دفتر شـلتر فار لايف با همکاری رياسـت احياء و انکشاف دهات مواد خوراکی توزيع کرد. به ګفتهٔ مسوولان رياست احيا وانکشاف دهات تخار، سـهم هر خانواده از اين کمک‌ها مقداری مواد خوراکی شامل آرد، روغن، برنج، شکر، لوبيا و ساير مواد غذايی به قيمت ٤۳۰۰ افغانی می ګردد.



## بلخ کې سلګونو کورنيو ته د څښاک اوبه برابريږي



شريعت: د بلخ د کليو، بيا رغونې او پراختيا رياست مسوولين وايي، چې د ياد ولايت د نهرشـاهي ولسوالۍ د افغانيه ښارګوټي او د ترکيو جومات په سيمه کې د کور په کور د اوبو رسولو شبکې چارې پيل شوې.

د بلخ د کليو، بيـا رغونې او پراختيا رييـس مولوي يـار محمد شـبير وويل، چې ياده شبکه UNOCHA موسسې په مالي ملاتړ ... ۷مخ


**توجه !**

**ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بګذاريد!**

**شريعت جريده داسلامي مبارزې يو رسا غږ او رښتينې هينداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو ليکوالانو هيله من يو چې موږ سره خپلو قلمي همکاريو ته دوام ورکړي.**